

HAZOB
info@hazob.de

مهالنۍ

# هڅوب

٣
ټولنيزه او فرهنګي مجله

## په دې ګڼه کې:

- د افغان ماشوم د راتلونکي ستر مسووليت...
- د جرمني ژبې معياري زده کړې ته اړينه مشوره...
- په جلا وطنۍ کې له ناکامۍ د ژغورل کېدو راز...
- بېله دنيا...
- د ملي سرود ياد...

HAZOB

مهالنۍ

# هڅوب

ټولنیزه او فرهنګي مــجله

۲۰۲۳ کال،
دریيمه ګڼه

نېټه: ډسمبر ۲۰۲۳


مؤسس او د امتیاز څښتن: هڅوب

مسوول مدیر: محمود سعید

مرستیال: مجیب الرحمن احساس

متن ایډیټور: قریب الرحمن شهاب

کمپوټر چارې: خان آغا نوري

کمپوز او ډیزاین: هېوادمل ګرافیکس

عکاس: محمد عمران

برېښنالیک: info@hazob.de

پته : جرمني، برلین


هڅوب په ټولنېزو رسنیو کې :

SCAN ME

www.hazob.de

بیه: ۵ یورو

# په دې گڼه کې:


جلاوطن ماشوم او د ملي هويت نه شلېدونکی تړاو ٤
لالا مري، نخښې پرېږدي! ٦
نابلدې لارې ٨
جرمني کې ميشت افغانان څنگه له ناکاميو ځان ژغورلی شي؟ ١٠
د ژوند لپاره هدف ټاکل د برياليتوب لومړی گام ١٣
د «جرمني ژبې اسانه زده کړه، له اساساتو نه تر ادبياتو پورې» ... ١٧
په لويديځ کې د افغان کډوالو لپاره ننگوني او فرصتونه ١٨
د «جرمني ژبې زده کړه له پښتو تلفظ سره» کتاب پرليکه شو ٢٠
د اټوم بم پلار اوپين هايمر، عروج او نزول ٢١
بېله دنيا ٢٤
د افغانستان وروستی ملي سرود ٢٨
د جرمني ملي سرود ٣٠
په جرمني کې د ماشومانو پالنه ٣٢
جرمني ژبه ٣٥
له ډاکټر سره چټک ترمين غواړئ؟ ٣٨
د ماشومانو نړۍ ٣٩
د تابعيت ازموينه ٤٣



# جلاوطن ماشوم او د ملي هویت نه شلیدونکی تړاو

تجربې ښيي، هغه کورنۍ چې له خپلو ماشومانو سره د کډوالۍ پر مهال د خپلو ارزښتونو، دین، مذهب او فکر ورښودلو او تمرین کې هڅې کوي، ماشومان يې د کډوالۍ دیار خپل اصلي چاپيریال ګڼي او په دې توګه د دغې ګټه ګوری خلکو دویم نسل له هویتي او ارزښتي بحران سره مخ وي.

جلا وطنی په چاپېریال کې له خپلې خاورې، خلکو او ارزښتونو سره د تړاو یو اساسي دلیل د زېږېدنې او خاپوړو له ځای سره تړلی احساس، فکر او پېښې دي.

د ماشومتوب پر مهال تو کېدلي حواس، افکار او خیالات په انسان کې د هیوادنۍ مینې او مالکیت د حس د یوه عمده لامل په توگه د عمر تر پایه رول لوبوي؛ خو دا اندیښنه چې د کډوالو ماشومانو دا حواس او افکار به څنگه وده کوي ورځ تر بلې جدي کیږي.

له ستونزو سره سره ځینې داسې لارې شته، چې په مرسته یې په یو بل چاپېریال کې لویدونکو ماشومانو ته د خپلو ارزښتونو په رسولو او ورښودلو کې مرسته کوي.

تجربې ښيي، هغه کورنۍ چې له خپلو ماشومانو سره د کډوالۍ پر مهال د خپلو ارزښتونو، دین، مذهب او فکر ورښودلو او تمرین کې ټنبلي کوي، ماشومان یې د کډوالۍ دیار خپل اصلي چاپیریال گڼي او په دې توگه ددغې کټه گورۍ خلکو دویم نسل له هویتي او ارزښتي بحران سره مخ وي.

د نړۍ د نورو هېوادونو او ټولنو په پرتله د افغانانو د اوسني نسل د کډوالۍ ریښې ژورې او اوږدې دي، ځکه پر افغان وطن د بدمرغۍ د نازلو څو څلوېښت کلونو سیلیو له امله د هیواد نږدې نیمایي کورنیو ته په نسبي یا کلي ډول د کډوالۍ ریښې رسیدلې، له همدې امله په کډوالۍ کې د افغان کورنیو مسوولیت هم تر نورو کډوالو ټولنو ډېر زیات او درووند دی.

د هڅوب مجلې په تېرو گڼو ددې مسوولیت او ارزښت په اړه ډېر څه لیکل شوي او پر دې هم بحث شوی چې ولې په جرمني ټولنه کې افغانانو ته د خپل دین، ارزښتونو، سالمو دودونو او ژبې ساتل مهم دي او یا موږ ولې له نورو کډوالو طبقو شاته پاتې او بې همغږۍ یو؟

ددې پوښتنو ځوابونه بېرته په خپله موږ افغانانو ته متوجه دي، ځکه د کډوالۍ له نسبتا دوامداره تاریخ سره مو هم د خپلو ارزښتونو او هویت پاللو پیاوړې او ډلیزه هڅه نه ده کړې، په داسې حال کې چې جرمني ټولنه د سختیو او بوختیاوو تر څنگ ځینې اسانتیاوې هم لري.

که له دې فرصتونو گټه وانخیستل شي او یا د جلا وطنو افغانانو اوسنی نسل په دې برخه کې زیار ونه گالي، نو ددې ټنبلیو بیه به هغه ماشومان پرې کوي چې په واړه عمر له هیواده وتلي یا له هیواده بهر زیږي.

که په هیواد کې د ننه یوه کورنۍ خپل ماشوم ته ډېر څه تعریف نه شي کړای یا یې په منظمه بڼه ور ونه ښيي، ښایي چې ماشوم ډېر موضوعات له ټولنې زده کړي؛ خو د جرمني په څېر په لویدیځو ټولنو کې چې هم په کې د میندو او پلرونو ژوند خورا بوخت وي او هم ماشوم له کوره بهر په وړکتون، ښوونځي یا بازار کې له مختلفو ادیانو، فرهنگونو، ژبو او څېرو سره مخ کیږي ستونزمنه ده چې افغان ماشوم په کې افغاني ارزښتونه زده کړي.

افغاني کورنۍ باید پر خپلو اوږو بار دا مسوولیت په ریښتنې مانا درک کړي او که موږ د افغانانو په توگه له خپل راتلونکي نسل څخه د افغان پاتې کېدو تمه لرو، د مالکیت حس ورښیو، خپل ارزښتونو ورته تعریفوو او د هویت د ورکېدو له بحران څخه یې ژغورو نو باید کار او زیار مو هم متفاوت وي.

دا تفاوت باید هر افغان او هره افغانه کورنۍ ثابت کړي او هر یو خپل فردي او ټولنیز مسوولیت ته د خپلو ورځینو کارونو او بوختیاوو په نوملړ کې ځای ورکړو.

د هڅوب ټیم د همدې مسوولیت د درک او ادا کولو پر بنسټ د هڅوب مجلې له همدې گڼې وروسته د ماشومانو لپاره ځانگړې پاڼې رامنځته کوي؛ خو له شک پرته دا هڅې به د جرمن میشتو افغانانو له کلک ملاتړ پرته ځای ونه نیسي.

موږ به هڅه وکړو چې افغان کورنیو ته د ماشومانو لپاره د هغوی په ژبه مواد خپاره کړو، چې هم به د ژبې زده کړه په کې شامله وي او هم به نورې معلوماتي برخې ولري؛ خو ماشومانو ته په فردي توگه ددې معلوماتو رسول او له هغوی سره یې تمرین د کورنیو دنده کیږي.

په پای کې هیله لرو، چې د هڅوب ددې گڼې مطالب مو د پام وړ وگرځي او هڅوب د هر جرمن میشتي افغان تر لاسونو ورسیږي.

درناوی
د هڅوب اداره



# لالا مري، نخښې پرېږدي!



اسدالله ښالیز

د افغان ملت شامت د بدو دی، په یوه پېړۍ کې یې دا دی پنځه شپږ ډوله نظامونه تجربه کړل خو یوه نظام یا سرواکي یې، د وخت د حساب خلک، مسول او مکلف ادرسونه په دې و نه توانېدل چې زموږ په خوار او هر اړخیز غربت سره مخ ولس باندې پانګونه وکړي، هوښیار یې کړي، د مالکیت د حق احساس ورکړي چې که هر ځل نظام بدلېږي او احمد ځي محمود راځي، نو راځي دې کنه، ولس به د دې وي چې په پرېکړو کې له نظره و نه غورځي، بنسټونه، تعلیمي نصاب او رسمی او نا رسمي جوړښتونه به پخپل ځای پاتې او اړتیا به نه پېښېږي چې له سره دې پیل شي. زموږ غټه ستونزه دا ده چې هر نوي نظام، له زاړه نظام څخه د تجربو تر لاسه کولو پر ځای یې خپله ډېره انرژي د تېر نظام په نېمګړتیاوو راسپړلو لګولې. هر تېر نظام مردود ګڼل شوی، په ښېګڼو یې خځلې اچول شوي، اداره، سیستم، علمي او مسلکي بنسټونه، کادري او متخصصه قوه او لنډه دا چې پخواني هر څه ناکاره حساب او پر ځای یې له سره نوی مزل پیل شوی دی. د اکثرو نظامونو ماشین د نورو په مرسته، خوښه یا فرمایش چالان او روان شوی نو زموږ ولس او هېواد ته یې زموږ په خوښه مطلوبه ثمره نه ده رسېدلې، تر ټولو ډېر بد یې دا راسره کړي چې د قدرت لپاره پر قدرت او له قدرته وتي طرفونه په یو ــبل تورنولو او تکفیرولو مکلف شوي دي، د بل ملامتولو فرهنګ په ټولنه کې ځېلې غځولي او چې تر څو د خولې لعابو یاري راسره کړې، د یو ــبل له درلو، شړلو او محوه کولو مو ډډه نه ده کړې.

که څه هم دغه ډول نامعلومو او د پردیو په فرمایشونو رامنځ ته شویو نظامونو ډېر عمر نه دی کړی، رسمي تربګنیو ډېر وخت دوام نه دی پیدا کړی، کلونه وروسته د ډېرو عقل سر ته راغلی لکه دا اوس چې پرونی مجاهد د ښوونځي او پلونو په ورانولو پښېمانه دي، خلقي او پرچمي یې مني چې د انقلاب یا کودتاه لپاره بې وخته نېغ او بې ګودره ورګډ شوي و، د جمهوریت د دورې هغوی خو دا دی په مدار مدار پخپلو نرمو اعترافونو ثابتوی چې خپله برخه ناانصافي ترې شوې ده، طالب به یې هم سبا ومني چې زموږ سخت دریځي رښتیا هم د وطن او



ټولنې په زیان وه خو نه پوهېدو، (که څه هم دغه ډول اعترافات ښايي د اشخاصو پر وجدانونو فشارونه لږ څه کم کړي خو د ټولنې موجود درد نه شي دوا کولای) هر څه به په پردو تاوان او د ګوندونو، تنظیمونو او اشخاصو غاړې به خلاصې شي خو بدې اغېزې به يې زموږ له فرد فرد سره لکه د سیوري تر عمره راسره وي او ځکه به وي چې موږ د خپل ولس په فکري رغونه کار نه دی کړی، دوی مو خپلو مسولیتونو ته د متوجه کولو پر ځای پخپله خوښه ګډولي دي، دغه کرښې که په ایران او پاکستان کې د وخت کډوال لولي نو زما له دې خبرو سره به موافق وي چې دواړو وطنونو کې د خپل وطن فرد فرد ورته شین کافر نه ښکارېده؟ د ښځینه وو لوست فحشا نه ګڼل کېده؟ مجاهدینو (!) ته معلم او مامور واجب القتل نه و؟ په کور دننه د خلق او پرچم هغوی ته د منطق سړی د انقلاب (!) د دښمنانو سړی نه ښکارېده؟ ډېر دیني عالمان يې د اخوان اشیاطین تر نوم لاندې له مخې لیرې نه کړل؟ ښه نو چې دا هر څه منئ نو دا هم ومنئ چې همدې خبرو ته ډېرو ناپوهو د تائید او ملاتړ ککړې نه ښورولې؟ ښورولې يې او ځکه يې ښورولې چې پخپله ښه بده نه پوهېدل! یوه لوري ته اسلامي احکام ناسم تفسیر شوي و او بلې خوا نه په ټولنیز عدالت راوستو کې دومره افراط وشو چې د کور، ډوډۍ کالیو ورکولو پر ځای يې هر څه ترې وتروړل. (ما وبخښئ چې زاړه زخمونه را نه وسپړل شول)

د دې دوو ادرسونو یاده مې د بېلګې په توګه ځکه کړې چې هاغه وخت خواله رسنۍ نه وې، د میا ملا او ښوونکي خبرې بې له ځنډه مغز او زړه ته ورننوتې او همدا د ټولنې معتبر ادرسونه و، خو اوس چې د انټرنیټ زمانه ده ولس کم تر کمه دومره هوښیار شوی چې په سپي پسې د منډې پر ځای لومړی غوږ ته ګوتې وروړي، همدا يې وخت دی چې زموږ د حساب خلک خپل رسالت تر سره کړي او د ولس لا هوښیارېدو ته کار وواېي.

دا دی بله څپه راغله، نظام بدل شو، هغوی چې د فکر او زده کړو پیوند يې د تېر نظام سره کلک کړی و، یو ځل بیا کډوالۍ ته اړشول یا اړ کړل شول خو دا ځل کډوالۍ نو د تېرو هغو په پرتله لږه څه غوړه ځکه ده چې د ایران او پاکستان د خړو دښتو پر ځای، غرب او اروپا کې مېشت یوو او په دې وطنونو کې ژوند که له یوې خوا د عقیدوي او فرهنګي پلوه په ټکر او موږ افغانانو ته په اسانه د جوړجاړی وړ نه دی، خو دا چانس راکوي چې د ښاري ژوندانه فرهنګ خپل کړو، کم تر کمه په ګېډو ماړه یوو نو دا چانس هم شته چې د اشتعال پر ځای استدلال غوره وګڼو، له عصري تکنالوژۍ ګټه پورته او د پرمختګ رازونه يې زده کړو او که خدای مو نصیب ښه او شپې په وطن کړي، وطن او وطنوالو ته به يې د خیر تپ ورسېږي، خو موږ په څه اخته یوو؟ موږ لا هم لګیا یوو مړه اور ته پوکي ورکوو، بې ګټې خواري مو روانه کړې، بې موخې مو پخپلو سپکولو پسې رااخیستې او دا وړ دریځونه نیول او پالل نو د هماغو پرونیو عداوتونو برکت دی چې له لسیزو مو پخپله وده ورکړې او لا لګیا یوو خواوې پرې سړوو، خو په دې باید پوه شوو چې تر هغې له خپلو شخصي غوښتنو او ګټو تېر نشوو، په والله که مو ځان یا ولس ته ښه را نه ورسېږي.

دا کار څنګه وکړو؟ په ډېرې اسانۍ سره! بس دومره دې وکړو چې د خپلو شخصي عقدو له اسارته ځانونه ډډې ته کړو، پر خواله رسنیو د څو لایکونو اخیستو شوق عبث وګڼو، د تحریر لپاره ګوتې او د تقریر لپاره ژبه مسولانه وښورو او بې له دې چې پرونۍ تا وېلې ـ ما وېلې راسپړو، د سبا لپاره انفرادي او ډله ییزې هڅې پیل وکړو، باور لرم چې لومړی قدم مسولانه او د وطن او ولس د نېکمرغۍ لپاره پورته شي، تر منزله مزل به راته اسانه وي.



# نابلدې لارې

**نعيمه غني**

د مهاجرت يا هم نوي ملک ته د کډه کولو سرگرداني، بې برنامه گي يا کله کله د کمترۍ احساس موږ هر يو مهاجر/ې او مسافر/ې په يو نه يو ډول تجربه کړی او ترې خبر يو.

دا يو له هغو ډېرو عامو ستونزو څخه دی چې د مهاجرت په لومړيو کې ټول راغلي کسان ورسره مخ کېږي. کله چې يو نوي هيواد ته راشو نو له فرهنک او دود دستور څخه رانيولې تر ناستې ولاړې پورې، له کړو وړو رانيولې بيا تر جامو او خوړو پورې هر څه راته نوي ښکاري او کله چې غواړو په دې نوې ټولنه ورگډ شو، نو دا پردی فرهنگ نور هم راته پردی کېږي.

موږ چې که له يوې خوا په يوه رواجي او سنتي ټولنه کې رالوی شوی يو ،له بلې خوا مو کلونو کلونو جگړو د فرهنگ بيلابيلې برخې دومره ويجاړې او وروسته پاتې کړې ،چې په نوې او پرمختللې ټولنه کې داسې ښکارو لکه له تېرو پېړيو څخه چې راغلې وو.

موږ د خپل سفر په دوو دريو مياشتو يا هم يو کال کې ښايي له ځان سره دا پرېکړه وکړو ، چې راتگ مو لويه تېروتنه وه او که د انتخاب حق ولرو کيدای شي په راغلې لاره بيرته شاته وگرځو، د کورنۍ، خپلوانو او دوستانو يادونه او د وطن بلد ژوند مو ممکن دا احساس څو چنده نور هم پياوړی کړي.

ډېر کله په نابلده ټولنه کې دا درې ډوله عکس العمل معمول دی:

لومړی عکس العمل مو دا وي چې گوښه کېږي غواړو چې له نوي او نابلد محيط څخه لېرې واوسو.

دوهمه ډله بيا په هر څه نقد کوو او داسې انگيرو چې دا ټولنه له سره تر پايه غلطه ده او موږ چې له کومې ټولنې څخه راغلې يو هغه ټولنه عالي او په هر څه کې ښه او متمايزه ده.

دريیمه ډله بيا په هر څه کې کور کورانه تقليد پيلوو او هڅه کوو چې وښييو چې موږ هم د نوې ټولنې سره ورته دود او دستور او ارزښتونه لرو يا هم زموږ هر څه سره يو شان دی او غواړو دا په عمل کې وښييو.

اوس به پوښتنه کوو چې کومه یوه یې ښه لاره ده؟

انساني تجربو راښودلې چې دا یوه هم کامیابه لاره نده او د هرې یوې لارې پای څه ناڅه سره یو دی او هغه دا چې په دې دریو واړو لار کې به موږ خپل ځان بایلو.

په لومړۍ لاره کې چې موږ ځان گوښه کوو نو هڅه کوو چې د خپل هیواد له یادونو او خاطرو سره ژوند تیر کړو، غمجنه موسیقي اورو، د نوي څه زده کړې یا هم کاري فرصتونو ته شا کوو، ساعتونه ساعتونه په اشپزخانه کې په خوړو پخولو تېروو، خواړه او خوږ خوراکونه پخوو او ځان پرې خوشحاله کوو، ساعتونه ساعتونه په تلیفون یا هم بل مصروفیت ځان بوخت ساتو، د شپې تر ناوخته ویښ پاتې کېږو او د ورځې تر ناوخته بیا ویده وو، یا هم ځان ویده اچوو یعنې هغه د ماشومانو چل کوو چې کله وېدار شي نو سترگې پټې کړي او گمان کوي چې که زه ډارونکي څه نه وینم نو هغه به هم ما نه ویني.

دا ډول گوښه والی ورو ورو زموږ په صحت او اړیکو بد اغیز کولای شي او کله کله خو موږ د مخدرو توکو استعمال او یا هم کوم بل ناسم عادت ته هڅوي چې جبران یې د ژوند تر پایه راته ناممکن وي.

په دوهمه لاره کې موږ د هر څه په وړاندې بد بینه کېږو او داسې انگېرو چې دا ټولنه له سره غلطه ټولنه ده، په وار وار په خپل راتگ یا مهاجرت پښیماني ښکاره کوو، د هر څه په وړاندې منفي فکرونه له ځان سره لرو او نورو ته یې هم انتقالوو، ځان، خپله کورنۍ، ماشومان او خپل دوستان د نوې ټولنې له ورگډېدو څخه راگرځو، خپل استبدادي قوانین جوړو او بیا یې په زور او خشونت سره په نېږدې کسانو منو او د خپل ځان په ستایلو او نورو په غندلو بوخت اوسېږو، په ټولنیزو رسنیو کې ناندریو ته لیواله کېږو او په پای کې یو عصبي او بد خلقه کس رانه جوړېږي چې هر کس رانه بیزاره دی.

په دریيمه لاره کې تر یوه حده مخته ځو، نوې ټولنه ظاهراً موږ قبلوي او موږ نوې ټولنه قبلوو یا حد اقل داسې فکر کوو. موږ نوې ټولنې یا راغلي ملک ته د یوې عظیمې او خارق العاده ټولنې په سترگه گورو او دا عظمت د دې باعث گرځي چې ځان خوار او کوچنی وگڼو.

خپل ارزښتونه راته هیڅ ښکارېږي، د نوې ټولنې ټول کړه وړه تقلیدوو او په دې پسې نه گرځو چې څه سم دي څه غلط. هغه څه اغوندو، خورو، څښو او داسې چلند کوو چې فکر کوو، دا نوې ټولنې یې خوښوي نه هغه څه چې زموږ خوښ دي. خپلې کورنۍ او دوستانو ته شا کوو او د نویو اړیکو په لټه کې وو چې

د نوي چاپیریال د معیارونو سره راته برابرې ښکاري، په هر نوي څه کې له حده ډېر افراط کوو او وخت په داسې بوختیاوو تیروو چې ښایي زموږ د راتلونکي لپاره به راته هیڅ گټه ونکړي. وروسته وروسته گورو چې نېږدې دوستان، کورنۍ او اړیکې مو له لاسه ورکړې او په نوی ژوند کې هم هغسې کامیاب نه یو لکه څنگه چې مو تمه لرله.

که دا درې واړه لارې غلطې دي نو حل لاره څه ده؟

تر هر څه مخکې باید دا ومنو چې موږ کومې ټولنې ته راغلي یو دا هم زموږ د ټولنې په څېر یوه بېله ټولنه ده، چې د بیلابیلو تاریخي، ټولنیزو، اقتصادي، کلتوري او جغرافیایي شرایطو په پایله کې زموږ له ټولنې څخه بل ډول ده. موږ د یوه سالم انسان په توگه هڅه کوو چې له دې ټولنې څخه چې لکه بله هر ټولنه ښه او بد به ولري، ښه راواخلو او له بدو څخه یې ځان وساتو.

په هر څه کې له اعتدال څخه کار واخلو او له خلکو سره واوسو، له نویو کاري او تحصیلي فرصتونو څخه گټه پورته کړو، سالمې بوختیاوې ومومو، د دوستانو / خورلڼو یوه حلقه کې ورگډ/ه شو چې ښې انگیزې او عالي اهداف ولري او که دوی داسې نه وي نو موږ سر لارې شو او له هغوی سره مرسته وکړو چې له موږ سره مله شي. وخت په وخت په خپلو اهدافو او لاسته راوړنو همدارنگه په ستونزو او حل لارو سره وغږیږو. حوصله ولرو او دې ته مو پام وي چې هر څه په یوه ورځ نه کېږي او ښایي کله کله په خپل غوره کړې لاره کې ناکامۍ هم تجربه کړو، په خپله ناهیلي نه شو او نورو ته هم حوصله ورکړو. دې ته مو پام وي چې تفریح ډېره ښه ده خو ټول وخت تفریح ته ورکول به مو په زده کړو او کار ناسم اغیز وکړي نو ښه ده چې هر څه ته په ټاکلې اندازه وخت ورکړو.

مشهوره خبره ده چې وایي وخت تر ټولو ښه ښوونکی دی. همدا وخت دی چې له موږ سره مرسته کوي چې د مهاجرت یا هم مسافرۍ څخه وروسته په یوه نوې ټولنه کې ورگډ شو، له گیډځ او بیگاه سره یې ځان عادت کړو او له فرصتونو یې گټه پورته کړو.

دا په یاد ولرئ چې تاسو د خپلې کورنۍ هغه لور یا زوی یاست چې ښایي د ټولې کورنۍ په منځ کې تاسو وی چې له دې ډول تحصیلي او کاري شرایطو څخه گټه اخیستلی شی ،نو هڅه وکړئ چې د خپل ژوند لپاره منظم پلان ولرئ، د ځان لپاره یو ښه څه وکړئ او د خپلې ټولنې، نېږدې دوستانو او خپلو ماشومانو لپاره په یو ښه مثال بدل شئ.

ټولنه، کورنۍ، خپل ځان او راتلونکی پر تاسو حق لري او هغه ژمنې مو چې د کور څخه په راوتو له ځان سره کړې وې هیڅکله مه هېروئ.



# جرمني کې مېشت افغانان

## څنګه له ناکامیو ځان ژغورلی شي؟



جانداد جهاني

ډېری افغانانو ته د اروپا مهاجرت یو خوب دی او فکر کوي اروپا ته له رسیدلو سره یې د ژوند ستر ارمان پوره کېږي.

خو واقعیت دا دی چې اروپا کې د افغانو لپاره ژوند یو نوی چلنج دی او اړتیا ډېر په دقت ګامونه واخلي ځکه ځیني وختونه ځیني وړو نقطو ته پام نن کول ستري ستونزې زېږوي. د مشهور سویسي لیکوال رولف دوبلي (Rolf Dobelli) په اند د بریا پرځای باید د ناکامیو علتونه وپلټل شي.

د هغه د مشهورو دوو کتابونو په رڼا کې ما د افغانانو د ناکامي ځیني عوامل په لنډو کې څېړلي او تحلیل کړي دي، باوري یم دې ټکو ته پاملرنه په اوږد مهال کې د مېشتو افغانانو لپاره ګټوره تمامیدلی شي.

### ۱. د سپما نه کول

په جرمني کې مېشت افغانان د پیسو او سپما په برخه کې ستونزه لري له دوی څخه ډېری یې سخت کار کوي او یوازې په افغانستان کې خپلوانو ته پیسې لیږي، له دې پورته نور او سپما نه لري.

ځیني یې چې زه پیژنم اصلا د سپما لپاره فکر او پلان نلري، هرڅومره پیسې چې مومي ټولي یا خپلوانو ته لیږي یایی مصرفوي،همدا علت دی چې دوی د پیسو سپما، پانګوني او مالي ودې څخه وروسته پاتې کېږي او په ډېر احتمال لس کاله یا ان شل کاله ورسته به یې هم وضعیت بدل نه وي همداسې سخت کار به کوي او خپل ژوند به په سختۍ چلوي.

په داسې یو حالت کې دوی د ژوند له ناڅرګندو شرایطو او مبهم راتلونکي سره مخ کېږي.

د لیرې راتلونکې لپاره پلانګذاري او د هغو لپاره فکر کول کولی شي، د دوی راتلونکی هوسا او خوندي کړي.

له همدې کبله جرمني مېشتي افغانان باید د خپلو خپلوانو د حمایې تر څنګ ،د خپل راتلونکې په اړه هم منظم پلان او اهداف ولري. دوی باید خپل عاید په داسې ډول وویشي چې د مصرف، سپما او خپلوانو ته لېږلو پیسې پکې ځانګړې شوې وي او نباید خپلوانو ته له حده زیاتو پیسو په لېږلو دغه توازن ګډوډ کړي.

د سپما او پانګونې د ارزښت پوهېدلو په اړه د «بابیل شتمن سړی» په نوم کتاب تاسو سره ډېره مرسته کولی شي.



## ۲. له زده کړو او ادغامه لرې والی

د هر کډوال لپاره په اړونده هېواد کې زده کړې، کلتوري ادغام او ژبنیو مهارتونو زده کړه هغه مهم مسایل دي، چې انکار ترې نشي کېدی. زیات افغان کډوال د جرمنی د ژبې د زده کړې، کلتوري پوهاوي او له نوي چاپېریال سره د توافق په برخه کې له ستونزو سره مخ کېږي. ځیني یې حتی خپلې لمړنی اړتیاوې لکه ډاکټر ته مراجعه یا نور د دې په خاطر شاته اچوي ، چې نشي کولی له یو ډاکټر یا اداري کارمند سره په ښه توګه مفاهمه وکړي.

افغان کډوال باید د جرمنی ژبې زده کړي او د دې هېواد له کلتور او قوانینو سره اشنایی ته لومړیتوب او وخت ورکړي. په دې سره نه یوازې دا چې دوی د مفاهمې مهارتونه او کاري فرصتونه لوړېږي، بلکې دوی ته په نوي چاپېریال کې د تړاو او تعلق احساس هم رامنځته کېږي او په لېرې راتلونکې یاني لس او شل کاله ورسته ژوند یې خوار ښه اغیز کوي.

## ۳. تور کار

په جرمني کې د کډوالو له لورې د غیرقانوني کار ترسره کول یوه بله مسله ده، که څه هم غېرقانوني کار په لنډ مهال کې د ځینو کسانو لپاره ګټور تمامیدلی شي، دوی کولی شي له مالیاتو ځان خلاص کړي او په عین حال کې د دولت له مزایاوو هم ځان برخمن کړي، خو په اوږدمهال کې ځینې جدي ستونزې ،لکه د تابعیت اخیستلو، اقامت تمدید کولو او نورو قانوني مسایلو کې لوی خنډونه راپورته کوي.

رولف دوبلي هم په منطقي او ستراتیژیکه تصمیم نیونه تاکید کوي، یو افغان باید له ځان سره دقیقه محاسبه ولري، چې دا کار بلاخره ما چیرته رسوي ! کومې ستونزې پنځولی شي! او څومره مې له یو ابرو مندانه مسلک څخه لیرې کولی شي، نو که چیرته یو څوک منظم پلان ولري ممکن په دې شیطاني لومه کې له لویدلو ځان وژغورلی شي.

## ٤. د نشه یي توکو استعمال

د نشه یي توکو استعمال یوه بله مهمه مسله ده، چې جرمني کې ځیني افغانان ورسره مخ دي. دا چې زیاتره افغانان د ایران او ترکیې له لارو راغلي او ډېر وخت یې ایران او نورو هیوادنو کې دا توکې کارولي ،دلته یې هم همدا عمل راوړی او دا چې د افغانانو ناستې او مجلسونه یو بل سره ډېر وي د دې لامل شوی ،چې د چرسو او ځینو نورو مضرو توکو استعمال د افغانانو تر منځ زیاتوالی ومومي.

د نشه یي توکو استعمال د افرادو تولیدي او تمرکز قوه زیانمنولی او د دوی شخصي ژوند په مختلفو اړخونو ناوړه توګه اغېزمنولی شي، له دې توکو څخه د خلاصون لومړنی ګام د دې ستونزې او منفي اغېزو په اړه یې پوهاوی دی، د مصرف کموالی او له محلي ادارو څخه هم په دې برخه کې د مرستې غوښتل ګټور تمامیدلی شي.



## ۵. شخصي هوساینه له پامه غورځول

زیات افغان کډوال خپلې شخصي هوساینې له پامه غورځوي او په دوامداره او سخت کار سره استراحت، تفریح او ځاني پاملرنې ته کم وخت پرېږدي، چې د وخت په تېرېدو سره یې فزیکي او رواني روغتیا زیانمنېدلې شي.

دا چاره ممکن د کورنۍ د فشار او هیواد او مهاجرت کې د دوي د سختې روزنې له بابته وي ،خو ځینی افغانانو بیخي هیره کړې ده چې دوی خپله هم د تفریح، هوساینې، خوشالۍ او ارام ژوند حق لري.

موږ بیرته دې دنیا ته نه راځو او نه همدا ځواني، خوشالي او نشاط د تل لپاره موږ سره پاته کیږي ځکه خو د ځینو کړنو، لکه تفریحي فعالیتونو ترسره کول، مختلفو ښارونو، سیمو او هیوادونو ته چکرونه تنظیمول، سپورټ او ورزش کول ستاسو د ژوند کیفیت او له جسمي او رواني روغتیا سره ډیره مرسته کولی شي.

په لنډه کې ویلی شو، چې لس او شل کاله ورسته راتلونکې ته فکر کول، او د هغه وخت لپاره پلان او هدف تعینول کولی شي تاسو له هغو لارو وژغوري، چې په مالي ناتوانۍ، روغتیایي ستونزو، ناهیلۍ او نورو بدبختیو تماميږي. موږ هر وخت کولی شو تصمیم ونیسو او د اوږدمهاله روغتیا، مالي ثبات او شخصیتي ودې هوساینې او د ښې راتلونکې د ترلاسه کولو لپاره لاس په کار شو.

# د ژوند لپاره هدف ټاکل د بریالیتوب لومړی گام



لیکوال: ډیل کارنیگي - ژباړن: نقیب احمد اتل

زه تاسې ته د یوې مشهورې پېښې کیسه کوم، دغه پېښه ما په خپل یوه بل کتاب کې هم لیکلې ده، د ۱۹۱۰ ز کال خبره ده، چې د نیویارک ښار په یوه ښوونځي کې دوو هلکانو زده کړې کولې او دواړه د دغه ښوونځي په استوگنځي کې اوسېدل، زه دلته دواړه په بېلابېلو نومونو یادوم، چې یو د جم او بل د پیټر په نامه درپېژنم، جم به تل د فکرونو په یوه بله نړۍ کې اوسېده او په خیال کې به یې له ځانه سره په هوا کې کلاگانې جوړولې، دی د یوې شتمنې کورنۍ غړی و؛ خو پیټر بیا د یوه بزگر زوی و.

یوه ورځ دواړه ناست وو او په دې اړه غږېدل، چې تر زده کړو بشپړولو وروسته به دوی څه کوي؟ پیټر په زغرده وویل چې دی به یوه ورځ د یوې نوموتې ادارې مشر وي، جم د هغه خبرې پورې وخندل؛ خو د بزگر زوی د هغه پر ملنډو بیخي خوابدی نه شو.

د قسمت کارونه وو، چې پیټر ته په یوه گودام کې د ماموریت دنده پیدا شوه، هغه په خوشاله زړه ورته غاړه کېښوده او په کار یې پیل وکړ، تر دندې وروسته یې په وزگار وخت کې له معاش پرته په یوه اداره کې هم کار کاوه، د ادارې مشر هغه ته د کار په بدل کې هېڅ مزدوري ورنکړه؛ خو کله چې د یوه بل تن ځای خالي شو، دی یې دهغه پر ځای وگوماره.

هغه ډېر خوشاله و او گام پر گام د پرمختگ په پوړیو پورته کېده، په دې دور کې نوموړی له ډېرو نهیلیو سره مخ شو؛خو د تېر په څېر یې بیاهم خپلې چارې په مېړانه پر مخ بیولې او ناکامۍ ته یې غاړه کېنښوده.

هغه په یوه او بل ځای کې د دندې پیدا کولو پسې ډېرې منډې ترړې ووهلې؛ خو له هرځایه به ناکام او نهیلی راستنېده.

په کومه اداره کې به ترې د ادارې د مشر خپلوان مخته و، په کومه اداره کې به پخوانیو مامورینو ته لومړیتوب ورکول کېده، په کومه کې به ډلو ټپلو ته ترجیح ورکول کېده او په کومه اداره کې به خلک په خوشامندو مقررېدل؛ خو له دې ټولو خبرو سره سره بیا هم پیټر په سړه سینه خپلې هڅې روانې ساتلې، چې بالاخره یوه ورځ د بېج نټ پیکنگ کارپوریشن ادارې د مشر په توگه وټاکل شو.

تر هغې وروسته هغه د بلومون په نامه د یوې مشهورې کمپنۍ بنسټ کېښود، اوس نو تاسې ته د پیټر اصلي نوم په ډاگه کوم، دهغه اصلي نوم مسټر سامن و، تاسې څه فکر کوئ چې د هغه د بریالیتوب راز په څه کې و؟ که ستاسې ځواب دا وي چې هغه پرله پسې خپلې هلې ځلې کولې، خو زه تاسې ته د ځینو داسې خلکو نومونه اخلم، چې تر ده یې ډېرې منډې ترړې وهلي؛ مگر بیا یې هم بریالیتوب نه دی په برخه شوی.

د مسټر سامن دبري یو راز په ژوند کې خپلې موخې ته رسېدل وو، دغه سړي له کوچنیوالي په خپل ذهن کې یو هدف

**د ورانوونکي هدف ټاکل پر خپل هېواد او قوم سربېره هدف ټاکوونکي سړي ته هم کومه ګټه نه شي رسولای؛ بلکې له درانه زیان سره مخ کېږي.**



ټاکلی و، چې دی باید یو غټ سړی شي، هغه خپلې موخې ته د رسېدو لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې وکړې او څه یې چې غوښتل هغه یې په خپلو سترګو ولیدل.

په ژوند کې بریالیتوب ته د رسېدو لپاره د یوه برید او هدف ټاکل اړین دي، کله چې تاسې په ژوند کې هدف ته د رسېدو لپاره هڅې پیل کړې، نو په لاره کې پراته خنډونه پخپله له منځه ځي.



## د ژوند هدف باید څه وي؟

**د خپلې موخې ټاکلو لپاره لاندې خبرې په ذهن کې ساتل اړین دي.**

١ : ایا تاسې د دې موخې لپاره یو ښه فکر کړی؟

٢:تاسې چې کوم هدف ټاکلی، له دې لارې خپلې ټولې هیلې پوره کولای شئ او یا یې د پوره کولو توان لرئ؟

د لومړۍ خبرې په اړه دا وګورئ، چې ایا دغه خبره ستاسې له مزاج سره برابره ده که نه؟ دا خبره زه په یوه بېلګه کې څرګندوم، ښایي چې ستاسې ذهن به له ښکلو هنرونو سره اشنا وي؛ خو له انجنیرۍ سره به بېخي نا بلده یاست او رښتیا ده، چې په دې فن کې بریا ته هم نه شئ رسېدلای.

ددې برعکس بیا د انجنیرۍ مینه وال سړی هېڅکله هم ښه شاعر او یا انځورګر نه شي جوړېدای؛ نو څرګنده شوه، چې هدف تل د مزاج له مخې ټاکل کېږي.

که تاسې په ژوند کې ځانته کوم هدف ټاکی، نو دا خبره له پامه مه غورځوئ، چې ستاسې هدف باید جوړوونکی وي، نه ورانوونکی.

د ورانوونکي هدف ټاکل پر خپل هېواد او قوم سربېره هدف ټاکوونکي سړي ته هم کومه ګټه نه شي رسولای؛ بلکې له درانه زیان سره مخ کېږي.

تاسې وګورئ داسې زرګونه خلک شته، چې په ژوند کې د ځان لپاره ډېرې بې ګټې موخې ټاکي، دلته یې بېلګه داراوړم، چې ځینې ښځې د ځان ښودنې لپاره یوازې قیمتي کالي او ګاڼې غوره کوي، په دې هدف سره دوی ته دا تاوان رسېږي، چې په دې کار سره به تل خلکو ته دروغجنې ښکاري.

دا به خدای ته معلومه وي، چې تاسې د ځان په اړه څه فکر کوئ؛ خو دا هم نه ده څرګنده چې خلک دتاسې په اړه څه فکر کوي.

یو څوک چې د ځان لپاره کوم هدف ټاکي، هغه په زړه کې څه ځانګړې هیلې

هم لري، چې دهغې د پوره کولو څواک هرو مرو په ځان کېويني، لکه څنګه چې د يوه سياستوال لپاره اړينه ده، چې هغه دې پراخه حوصله ولري او د هرې پرېکړې د غور او فکر لپاره دې سړه سينه ولري.

همدارنګه د يوه وينا کوونکي لپاره هم دا ډول ښېګڼو ته اړتيا ده، هغه څوک چې غواړي سياستوال شي؛ نو د پورته خبرو په پام کې نيول يو مهم شرط دی، که يو تن غواړي چې ډاکټر شي؛ نو دده لپاره مسلکي زده کړې په کار دي او که يو سړی غواړي چې ليکوال شي؛ نو د هغه لپاره مطالعه اړينه ده.

## پر برياليتوب باور:

کله چې تاسې په ژوند کې د ځان لپاره کوم هدف ټاکئ، نو د خپل هدف پوره کولو لپاره متې راونغاړئ او په خپل ذهن کې د بري روحيه پياوړې کړئ، که ته د هدف تر لاسه کولو په پيل کې په برياليتوب باوري شوې؛ نو پوه شه چې خپل نيمايي برياليتوب دې تر لاسه کړ او يا داسې وګڼه چې نيم جنګ دې ګټلی، په داسې وخت کې د بري لاسته راوړل ستاسې د راتلونکي لپاره ډېره ګټه لري.

## په ژوند کې د هدف ټاکلو بڼه  بايد څه ډول وي؟

په ژوند کې د هدف ټاکلو لپاره يوه تر ټولو ساده او اسانه طريقه داده، چې قلم او کتابچه راواخلئ او په ډېر ارام ځای کې کښېنئ او په دې فکر وکړئ، چې په ژوند کې څه کول غواړئ؟ د نوم او شهرت لاسته راوړل د انسان کمزوري ده او دا حتمي ده چې د راتلونکي لپاره د چمتوالي پر وخت دا خبره د سړي فکر ته راځي.

کله چې تاسې د يوه کار په کولو پيل کوئ؛ نو خيال ته  به مو خامخا ډېر هدفونه راشي؛ خو دا حتمي خبره ده، چې د ټولو هدفونو لاسته راوړل ګران کار دی او د خپل بري لپاره يوازې يوه ټاکل شوي هدف ته رسېدل اړين دي.

**تاسې چې په ذهن کې کومې موخې لرئ، په خپله کتابچه کې يې په ترتيب سره وليکئ.**

کله مو چې دا فهرست برابر کړ؛ نو يوه شېبه ارام وکړئ ، کله مو چې ماغزه ارام شول؛ نو بيا په دغه ليست باندې فکر وکړئ، په دې کې به تاسې ته نور نوي هدفونه پيدا شي، هغه پخپل قلم په نښه کړئ.

له دې سره ستاسې په ليکل شوي ليست د بيا بيا فکر کولو له امله ټولې نيمګړتياوې له منځه ځي او په پای کې يو يا دوه هدفونه پاتې کېږي، که دوه هدفونه پاتې شول؛ نو يو به يې ډېر مهم او بل به ډېر مهم نه وي، مهم يې په خپل ليست کې پرېږدئ او دويم ترې وباسئ.

اوس نو ستاسې په ليست کې يوازې يو هدف پاتې شو او دا هغه هدف دی چې تاسې يې د خپل ژوند لپاره غوره کولای شئ. اوس ددې هدف ترلاسه کولو لپاره هلې ځلې وکړئ او کومې هڅې چې دخپل هدف د ترسراوي لپاره کوئ داسې مه انګېرئ، چې د برياليتوب لار به پيدا نه کړئ.

تاسې ددې موخې لپاره خپل ځانونه وبايلئ، د خپلې موخې لاسته راوړلو لپاره هڅې او لګښونه وکړئ، که چېرې مو داسې وکړل؛ نو بې له شکه چې تاسې به د برياليتوب لار ومومئ.



کله چې تاسې په ژوند کې د ځان لپاره کوم هدف ټاکئ، نو د خپل هدف پوره کولو لپاره مټې راونغاړئ او په خپل ذهن کې د بري روحيه پياوړې کړئ، که ته د هدف تر لاسه کولو په پيل کې په بريالیتوب باوري شوې؛ نو پوه شه چې خپل نيمايي بريالیتوب دې تر لاسه کړ او يا داسې وګڼه چې نيم جنګ دې ګټلی، په داسې وخت کې د بري لاسته راوړل ستاسې د راتلونکي لپاره ډېره ګټه لري.

## خپل کار سره د زړه له تله مينه ولرئ!

که تاسې له کوم کار سره مينه ونه لرئ،نو غوره داده چې پرې يې بږدئ، ځکه چې له کوم کار سره مو مينه نه وي، له هغه نه کومه ګټوره پايله نه شئ تر لاسه کولای.

په کوم کار کې چې ذوق شامل وي، ترسره کوونکی یې هم خوشاله وي او خپل کار په ښه توګه مخ ته وړي، که څوک پام وکړي د دولتي او نادولتي ادارو کارکوونکي خپل کارونه د بېګار غوندې ترسره کوي، دوی ته چې څومره معاش ورکول کېږي، غواړي همدومره کار وکړي، دا ډول خلکو ته دکار غله او حرام خواره ويل کېږي او په دوی کې دا بد عادت هم پيدا کېږي، چې د نن کار سبا ته پرېږدي، داسې وخت راځي، چې دوی د خپل دفتر د سامان په پلورلو هم ابله نه کوي، په خپلو دې خويونو سره ټولې ادارې ته زيان رسوي.

په کوم ځای کې چې پرمختګ ته اړتيا وي، د دوی په شتوالي کې اداره شاتګ کوي، هر چاته په کار ده، چې په ډېرې لېوالتيا سره خپل کارونه ترسره کړي.

يوه ورځ په نيويارک کې د اورګاډو ادارې له مشر فريډرک ويلمس نه په يوه راډيو کې پوښتنه وشوه، چې ستا په نظر په کاروبار کې د بريالیتوب لپاره کوم شیان اړين دي؟ هغه دا پوښتنه ډېره لنډه ځواب کړه او ويې ويل: ((لېوالتيا او جذبه )) هغه دا هم وويل چې په دې خبره کې يو راز پروت دی او په دې راز ډېر کم خلک پوهېږي او څوک چې پرې پوهېږي هغوی پرې عمل نه کوي.

تجربو ښودلې چې په يوه سيالۍ کې بريالیتوب د هغه چا په برخه وي، څوک چې له خپل کار او مسلک سره لېوالتيا لري.

دا خبره يوه نوموتي پوه، شاعر اوليکوال مسټر ايمرسن داسې روښانه کړې: (( هېڅ يو ستر کار له شوق پرته پای ته نه شي رسېدلای. )) کله چې موږ د بريالیو خلکو له ژوند او حالاتو خبرېږو، نو څرګنده به شي، چې په بريالیتوب کې يې د لېوالتيا پله درنه ده.

داسې هېڅکله هم نه کېږي، چې د چا دې انځورونه نه خوښېږي، خو هغه دې يو ښه انځورګر جوړ شي،د چا چې له شاعرۍ سره مينه نه وي، نو هغه کله يو مشهور شاعر کېدلای شي؟

د امريکا يوه اوسېدونکي والټر چيزلر د موټرو جوړولو کمال زده کړی و، چې هغه په دې ډګر کې ډېر پرمختګ وکړ او په امريکا کې د اهن روبا په نامه ونومول شو، د نوموړي په وينا چې زما کارکوونکي په ډېرې لېوالتيا سره خپل کارونه مخته وړي، چې د همدوی منډو ترړو زما پر کاروبار ښه اغېز کړی او دېر مختګ په حال کې يو.

همدارنګه د يوه سوداګر روډ ويليم وينا ده، چې هرڅوک يو کار په لېوالتيا او جذبه تر سره کوي، هغه چې بل هر يو کار ته لاس اچوي په هغه به برلاسی کېږي او برى يې په برخه وي.

سرور کرايډورډ ايپل ټن د نوبل جايزې ګټونکي د ټايمز اوونېزې سره په يوه مرکه ويلي وو، چې زه دساينس په څېړنيزو کارونوکې د بريالیتوب لپاره تر مهارت لېوالتيا او جذبه اړينه ګڼم.




# د «جرمني ژبې اسانه زده کړه، له اساساتو نه تر ادبیاتو پورې» کتاب ته لنډه کتنه

محبوب الله خان

څه موده کېږي چې له خپلې کورنۍ سره له ګران وطن افغانستان څخه راکوچېدلی یم او د جرمني په برلین ښارکې مېشت یم. دلته د جرمني ژبې زده کول راته یوه ستره ننګونه او مهم لومړیتوب دی. په دې موده کې په پښتو کې د جرمني ژبې د زده کړې په اړه بېلا بېلې رسنیزې خپرونې، رسالې او کتابونه مخې ته راغلل چې تر ټولو ګټور او اسانه کتاب (په پښتو کې د جرمني ژبې اسانه زده کړه، له اساساتو نه تر ادبیاتو پورې) راته مالوم شو.

### په پښتو کې د جرمني ژبې اسانه زده کړه:

دغه کتاب پیاوړي لیکوال ډاکتر اکرم ملکزي لیکلی دی او په ۸۲۸ مخونو کې د اې فور په کچه پر ۲۰۲۱ کال د ننګرهار پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له خوا د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی. د دې کتاب لومړی چاپ هم په همدې کال په جرمني کې د جرمني ژبې ټولنې له لوري خپور دی. د دې کتاب د خپرېدو او چاپ تخنیکي چارې د افغانیک موسسې له خوا ترسره شوې دي. د دې کتاب یوه مهمه اسانتیا اوځانګړتیا دا ده چې د کاغذي چاپ ترڅنګ کټ مټ په کمپیوټري یا ډیجیټلي بڼه هم خپور دی او لوستونکي یې په ټوله نړۍ کې په لاسي مبایل فون او کمپیوټر کې لوستلی شي.

### د کتاب منځپانګه:

د دې کتاب ټوله منځپانګه په پښتو ژبه د جرمني ژبې زده کړې ته بېله شوې ده. د جرمني ژبې الفبا، دتورو جوړښتي ترکیبونه، ارټیکلونه، اسمونه، فعلي حالتونه، زماني حالتونه، صفتونه، ضمیرونه، قیدونه، ارتباطي کلیمې، د کلیمو معنوي او توپیري څرنګوالی، ګرامري اصطلاحات او هر څه چې د جرمني ژبې د زده کړې پورې تړاو لري په پښتو ژبه په غوره ډول بیان شوي دي.

د دغه کتاب څو مهمې ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

### ۱ـ د ژبښوونې ځانګړې مېتود:

جرمني ژبه دلته په کورسونو کې د نورو ژبو د ویونکو لپاره جلا میتود او نصاب لري.

ښاغلي ملکزي په خپل کتاب کې د جرمني ژبې د زده کړې او د ژبښوونې ځانګړې مېتود خپل کړی او کارولی دی، چې هم تدریسي او هم علمي دی.

د دې کار یو لامل دا دی چې لیکوال د جرمني تر څنګ په پښتو ژبه هم ښه پوهېږي او همدا رنګه د ژبپوهنې او ژبښوونې په ټولو اصولو ښه پوهېږي. د دې کتاب یوه ستره ځانګړنه هم دا ده چې د جرمني ژبې د زده کړې اسانه او ګټور مېتود په کې کارول شوی دی او د جرمني ژبې ګرامري اصطلاحات، ژبنۍ پیچلتیاوې او ځانګړتیاوې په ډېره ساده او ګټوره بڼه راټولې شوې او لوستونکو ته وړاندې شوې دي.

### ۲ـ کره پښتو متن:

د جرمني ژبې اسانه زده کړه کتاب بله مهمه ځانګړتیا دا ده چې پښتو متن یې هم کره او معیاري دی. لکه څنګه چې ما مخکې هم یادونه وکړه چې ډاکتر صیب ملکزی د جرمني ترڅنګ په پښتو ژبه او ګرامر هم ښه پوهېږي، نو له همدې مله د دې کتاب پښتو متن کره، معیاري، خوږ او ساده دی چې د افغانستان او پښتنو د هرې سیمې او لهجې ویونکي لوستونکي پرې ژر پوهېږي او ګټه ترینه اخیستلای شي.

### ۳ـ تدریسي ارزښت:

د دې کتاب درې یمه او مهمه ځانګړتیا دا ده چې دا کتاب په داسې جامع تدریسي میتود لیکل شوی دی، چې د هرې تعلیمي سویې اوتحصیلي کچې لوستونکي ور څخه ګټه اخیستلای شي. څنګه چې د دې کتاب په مل سرلیک کې ( له اساساتو نه تر ادبیاتو ) لیکل شوی دی، نو د دې کتاب تدریسي او علمي ارزښت هم دا دی چې که لوستونکی یې سم په غورسره ولولي او پرې پوه شي نو د جرمني ژبې هر ډول مطالعه لکه، متن، خبرونه، ادبیات او علمي - پوهنیز کتابونه په جرمني ژبه کې لوستلی اوپرې پوهېدلی شي. د دې ترڅنګ د دې کتاب په لوستو سره لوستونکی په یو وخت کې د جرمني ژبې تر څنګ پښتو ژبه او ګرامر هم زده کولی او پرې پوهیدلی شي.



# په لویدیځ کې د افغان کډوالو لپاره ننګونې او فرصتونه

ډاکتر وصیل رحیمي

د ۱۴۰۰ کال زمري (اسد) میاشتي د ۲۴ نیټې بدلون یو ځل بیا د افغانانو د ژوند نیم ځانه عادي بهیر له پراخو بدلونونو او تغیراتو سره مخ کړ.

سره له دې چې د دغه پراخه ، هراړخیز او ژور بدلانه منفي او ناوړه اغیزې خورا ژورې او پراخه وې او د ژوندانه ټول اړخونه یې بدل کړل، خو د دې ترڅنګ یې څو د ګوتو په شمیر مثبت اړخونه هم درلودل.

د کورنیو جګړو د بیا پیل مخنیوی ، د قدرت او واک د جزیرو له منځه وړل او د ۲۰۰ څخه تر ۳۰۰ افغان ځوانانو د سر په بیه د سیاسي واک د لاسته راوړلو لپاره وحشي، ناوړه او کرغیړنې جګړې پای یو مثبت اړخ و.

د دغه ستر بدلون ترټولو ستر ناورین او غمیزه بیا په وروستیو شلو کلونو کې د روزل شوې بشرې قوې لویدیځو هیوادونو ته د ښه ژوند په تمه تګ، فرار ته مجبوریت او یاهم تیښته وه.

سره له دې چې افغانانو ته دغسې کتلوي او ټولیز مهاجرت او کډوالي تازه نه وه، بلکې د ثور له کودتا وروسته دا تقریبا څلورم ځل دی چې ګران هیوادوال د مختلفو دلایلو پراساس، له کورنۍ، ولس او وطن سره په نه زړه او اسویلیو خدای پاماني کوي.

د وطن خاورې، غرونو رغونو، دښتو اوبیابانونو، آب او هوا او ولس سره دانسانانو تړون یواځې فزیکي اړخ نه لري ،چې د هوا تراخیستلو، څښلو ، خوړو او خوب پورې منحصروي ، بلکې دغه تړاو له فزیکي اړخ ور اخوا نفسیاتي او رواني اړخ هم لري ،چې تر ډېره بریده له ټولنیزو رواجونو، دیني او ملي ارزښتونو ، ټولنیزو اړیکو، غم، ښادی ،ناستې ولاړې او راشه درشه پورې تړاو لري.

د اچې په لویدیځه ټولنه کې د ژوند ډول له شرقي ټولنې او په ځانګړې ډول زمونږ له افغاني ټولنې سره خورا زیات توپیر لري او دغه توپیرونه بیا د ننګونو ترڅنګ ،ځینې فرصتونه هم رامنځ ته کوي.

د دې لپاره چې د کډوالی او یا په لویدیځه ټولنه کې د ژوندانه د پیل سره پرتوننګونو برلاسی پیدا کړو او ورته مناسب ، پروخت او ګټور ځواب ووایو، ما هڅه کړې چې په دې لیکنه کې ورته ځواب پیدا کړو.

په پیل کې هغه ننګونې او چیلنجونه چې افغانان یې لویدیځو هیوادونو ته په راتګ سره تجربه کوي :

- د ژبې بدلون
- د دیني شعائرو او ارزښتونو توپیر
- کلتوري توپیرونه
- کورنۍ ستونزې
- په نوي چاپیریال کې د ماشومانو روزنه



- د تولنیزو اړیکو نه پالنه
- یواځې والی او تنهایي
- په ځینو سیمو ، ادارو او بنسټونو کې تبعیض او توپیري چلند

## د ژبې بدلون :

په وروستیو شلو کلونو کې په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د لویدیځو هیوادونو پوځي، سیاسي ،اقتصادي او رسنیزې ښکیلتیا د زده کړو، اقتصادي ودې او نړۍ سره د ارتباط او اړیکو بې شمیره فرصتونه رامنځ ته کړل.

له دغو فرصتونو څخه د ښې استفادې لپاره له انګیسي ژبې سره بلدتیا اړینه وه ، د مارکیټ همدې لوړې تقاضا او غوښتنې ته د ځواب لپاره د هیواد په ګوټ ګوټ کې د انګلیسي ژبې د زده کړې بې شمیره مراکز رامنځ ته شول او په لوړشمیر یې له انګلیسي ژبې سره په مختلفو کچو بلد افغانان ټولنې ته وړاندې کړل.

سره لدې چې د امریکا په مشرۍ په دغې ښکیلتیا کې نورلویدیځ هیوادونه، په خانګړې ډول اروپايي هیوادونه هم وو، خو د هغوی ژبو ته چې تقریبا هرهیواد ځانګړې ژبه لري د پراختیا او عام کېدو لپاره ملموس کار ونه شو.

یا په بل عبارت، د کار او عاید لپاره د دغو ژبو زده کړه د مارکیټ تقاضا او غوښتنه نه وه ، چې یو دلیل یې کیدای شي د دغو هیوادونو لخواد خپلو برنامو او پروژو د تطبیق لپاره هغه کسانو ګمارل وو، چې له انګلیسي ژبې سره بلد وو.

له بدلو ن وروسته هغه افغانان چې، له انګلیسي ژبې سره بلد وو، د امریکا په متحده ایالاتو، انګلستان ، استرالیا او کاناډا کې له ستونزو سره مخ نشول او په آسانۍ سره یې په هغو ټولنو کې نوی ژوند پیل کړ.

نورو اروپايي هیوادونوته کډوال شوي افغانان، چې له انګلیسي ژبې سره یې بلدتیا درلوده، تریو بریده یې د ستونزو په حل کې مرسته وکړه ،خو له یادو ځلورو هیوادونو پرته په نورو اروپايي هیوادونو کې پراته افغانان اړ دي د خپل عادي ژوندانه د پیل، کار موندلو، تابعیت اخیستلو او د کورنۍ او اولادونو د راتلونکې لپاره د هغو هیوادونو ژبه زده کړي.

په جرمني کې یوزیات شمیر افغانان د جرمني ژبې د زده کړې په برخه کې له دوو ستونزو سره مخ دي، یوه ډله یې ژبه په دې پلمه نه زده کوي چې ګواکې خورا سخته او پیچلې ده او په همدې پلمه کلونه کلونه د حکومت لخوا کیدونکې ټولنیزې مرستې یا سوسیال ته پراته وی او په لږ مزد او اجوره ډیرکار یا میني جاب کوي.

نه د خپلو اولادونو د راتلونکې لپاره له شته فرصتونو څخه ګټه اخلي او نه هم د ښه ژوند لپاره هڅه او تلاش کوي.

په همدې دلیل یو زیات شمیر افغانان د کلونو کلونو په تیریدو سره سره بیا هم د سوکاله، آرامه او مرفه ژوند له خوږو بې برخې وي او په کلونو کلونو په شاقه او هغو کارونو بوخت وي، چې هغه کارونه باید نوي راغلي کسان وکړي.

دوهمه ډله یې بیا د ژبې په زده کړو کې دومره افراط کوي، چې خپله مورنۍ ژبه یې په کورني ماحول کې د خبرو او محاورې له بهیر څخه ویستلې ده ، د کورنۍ د محاورې او خبرو اترو ژبه یې هم جرمني ده او په دې ډول د هغوی دوهم نسل له خپلو ملي ژبو ، پښتو او دري سره بشپړ نابلده دي.

زه فکر کوم د لته یو تعادل ته اړتیا ده او هغه منځنۍ لاره به دا وي، چې جرمني ژبه په ټولنه کې دادغام او ورځني کاروبار او نورو اړتیاوو د پوره کولو لپاره زده کړو او د کورني ماحول ژبه خپله مورنۍ ژبه وګرځوو.

په دې ډول به په نوې ټولنه کې بریالی ژوند ولرو او د کورنۍ او ماشومانو لخوا په مورنۍ ژبه خبرې اترې به هغه اندېښنې ، چې په نوې ټولنه کې د بیګانه ګۍ او پردي توب د احساس له امله منځ ته راځي تر ډیره بریده راکم شي.

په دې ډول به د کورنۍ ماحول او چاپیریال د ژوندانه هغه خواږه چې په وطن او ولس کې یې شتون درلوده ترډیره بریده وساتي او ماشومان به هم د شرقي اوغربي ټولنو د خوږو او ښیګنو، یو داسې امتزاج او ګډون وي، چې د ارزښتونو په ساتلو سره به د اوسني عصري ټولنې ټولو غوښتنو او اړتیاوو ته ځواب وایي.

# د «جرمني ژبې زده کړه له پښتو تلفظ سره»
# کتاب پرلیکه شو




د جرمني ژبې زده کړه له پښتو تلفظ سره، د یادې ژبې د اسانه زده کړې تازه خپور شوی کتاب دی چې د هڅوب د همکار، خان آغا نوري په هڅو چمتو شوی او تازه پرلیکه شو.

په کتاب کې هڅه شوې ،چې د جرمني ژبې د تورو، لغاتو او خبرو اترو تلفظ په پښتو ولیکل شي، څو د دې ژبې د زده کړې په لومړنیو ورځو کې زده کوونکي له کوم لاربود پرته، د جرمني ژبې زده کړه په خپله پیل کړی شي.

د دې کتاب بله ځانګړتیا داده چې، د ژبې د زده کړې سربیره د یادې ژبې د اصلي ویونکو د کلتور په اړه هم معلومات شته، چې لوستونکي په جرمنی کې د ژوند په هغو بدلونونو هم خبروي چې په یاد هېواد کې ورسره مخامخ کېږي.

له دې هاخوا په کتاب کې هغه ورځنۍ اصطلاحات چې په جرمني کې افغان ورسره حتمي مخامخ کېږي هم شته.

دا کار له یوې خوا اړتیا ده او له بلې خوا د کلتوري شوک ؛چې د ګډوالی پر مهال د ژور خفګان او ناروغیو لامل کېږي، مخه نیسي.

د کتاب ځینې برخې داسې لیکل شوې چې زده کوونکي لیکل هم په کې کولای شي، چې دا کار مرسته کوي، څو د لیکلو پر مهال د حروفو ځای او ترتیب ښه وپېژنئ.

د هغو کسانو لپاره چې تر اوسه پښتوژبه سمه نشي لوستی، د کتاب هر لوست په ویډیویي بڼه تشریح شوی. د کتاب په پای کې د ټولو لوستونو «کیو آر» کوډ شته چې، سکن کول یې تاسو هماغې ویب پاڼې سره نښلوي.

هڅوب د خپل همکار خان آغا نوري دا هڅه د قدر وړ بولي او دا د پښتو ژبې لپاره یوه ښه اوګټوره زیاتونه بولي.

# د اټوم بم پلار اوپین هایمر، عروج او نزول



سراج الحق ببرک زی ځدراڼ



## د اټوم بم یا د سولې وسلې تاریخ:

په لومړي ځل کله چې انسان د اټوم بم جوړولو په اړه فکر وکړ، په ۱۹۳۳ کال کې په هنګري کې د فزیک پوه لیو زیلارډ لخوا د دویم نړیوال جنګ پر مهال و.

خو دا مهال ساینس لاد اټوم بم جوړولو ته نه و چمتو شوې،یوازې په خیالونو، ګمانونو او اټکلونو کې بم جوړ شوي و.

په ۱۹۳۸ کال د ډسمبر په ۲۲ مه نېټه په برلین کې د اټوم په هسته کې سورې کشف شو، چې له دې نېټې ورسته د اټوم بم جوړولو ته لومړنی لار جوړه شوه.

دغې تشخیص څرګنده کړه، چې د یوه غیر کنټرول شوي زنځیري غبرګون اغېز خورا لوړ ویجاړونکي ځواک لري یا یې رامنځته کوي.

تمه او موخه دا وه، چې څه ډول د اټوم په هسته کې له نغښتي غیرې فعالې انرژی ځخه ګټه واخیستل شي.

په ۱۹۴۵ کال کې د نړی په تاریخ کې لومړنی اټومي بم وچاودید. بم ته په دې موخه چادونه ورکړل شوه، چې دا به نوي عصر کې د ګواښمنو ډله ییزو ویجاړیو لپاره یوه تر ټولو لویه غوره پیاوړې وسله وګرځي. په جاپان کې د دې اټومي وسلې د کاروني له امله لږ تر لږه دوه سوه زره کسان په څو ثانیو کې ووژل شول. هیروشیما په یوه ورځ په یوه کنډ و کپره وحشتناکه دښته بدله شوه.

د اټومي بم چاودنې رڼا د زرو لمرونو له رڼا څخه روښانه وه او د اټومي بم بیساري راډیو اکټیفي وړانګو ټوله نړی په وېره او وحشت کې کینوله.

په همدې وخت کې په نړی کې سړه جګړه هم پیل شوه.

د دې ویجاړونکو وسلو له جوړونکو یا مخترعینو څخه یو د اټومي بم پلار (جې رابرټ اوپین هایمر) و.

ددې نوموتي تکړه ساینس پوه او فزیکپوه رابرټ اوپین هایمر لاسونه هم په سرو وینو ککړ دي،ځکه د نوموړي نوم د اټومي بم سره مترادف دی.

رابرټ اوپین هایمر د خپل وخت یو له تر ټولو خورا مشهورو فزیکپوهانو څخه و. فزیکپوه رابرټ اوپین هایمر د امریکا متحده ایالاتو لپاره اټوم بم جوړ کړ. نوموړی د لومړني اټومي بم اختراع او پراختیا مسوولیت په غاړه لري، چې بیا ورسته هغه

د امریکا د وسلو تسلیحاتي پروګرامونو او اټومي پالیسیو سرسخت منتقد وګرځید.

خو په ورته وخت کې د نړۍ سانیسپوهانو په سمبول هم بدل شو. لومړي له دې امله ښه وستایل او ولمانځل شو، خو بیا ورسته شوروي اتحاد ته د جاسوس په تور په یوه جادویې معامله کې ښکار او د غدار په نامه بد نام کړل شو.

د اوپین هایمر اړوند پیچلتیاوې او پوښتنې په شلمه پیړۍ کې د ساینس او سیاست ترمنځ د تاوتریخوالي په ساحه کې د لویو امریکایي ډرامو څخه ګڼل کیږي. رابرټ اوپین هایمر له یوه نوموتي ساینسپوه څخه د متحده ایالاتو ملي امنیت ته تر ګواښ پورې ورسید.

دا تکړه نوموتی فزیکپوه څوک و، چې لومړی یې د اټوم بم ویجاړونکي ځواک ته چاودنه ورکړه او سمدستي یې د اټومي بمونو له ویجاړونکي ځواک څخه خبرداري ورکړ او په پای کې د شوروي جاسوس په تور تورن شو او د امریکا د ټولو حکومتي پټو محرمو سیاسي ناستو، حلقو او ادارو څخه وشړل شو.؟

امریکایې فزیکپوه رابرټ اوپین هایمر د منهاتن پروجېکټ مشر او د اټوم بم مخترع پیژندل کیږي،خو د هغه میراث تر دې لا هم ډېر پاتې شوي دی.

پوښتنه دا ده، چې هغه خپل ژوند د ساینس، سیاست، او اخلاقو ترمنځ څنګه تیر کړ.؟



ناندرېزه متضاد او افسانوي نوموتي تیوریسان فزیکپوه جولیس رابرټ اوپین هایمر د نړۍ لومړنۍ اټومي بم جوړ کړي. نوموړي د خپلې اختراع سره د نړۍ تاریخ مسیر بدل کړ،خو هغه په خپله کشف شوي اختراع باندې څومره افسوس وکړ.؟

اوپین هایمر او د هغه ډېرې همکاران په دې پوهیدل، چې دوی بشریت ته څه ډالۍ کړي.

د اوپین هایمر په شمول ډېرې ساینسپوهان د شکونو سره مخامخ وو، ایا دا یو سم کار دی، چې دومره پیاوړې ګواښمنه او بده وسله جوړه شي.؟

دا مهال داسې ساینسپوهان هم وو، چې دوی د شوروي اتحاد په وړاندې د سړې جګړې د اټومي
وسلو د سیالۍ ملاتړ کاوه.

ځینو ساینس پوهانو د هایدروجن بم د پراختیا سره خپل مخالفت څرګند کړ.

د هایدروجن بم د ساده اټومي بم یو زورور پرمختللي ډول دی، د هایدروجن بم یو سوپر اټوم بم دی. دا مهال د ساینسپوهانو په فکرونو کې یو ډول بدلونونه لیدل کیدل، له ابتدایې ملاتړه تر شدید مخالفت او رد پورې رسیدلي وو، ساینسپوهان د اخلاقو یا وجدان له دوراهې سره مواجې شوي وو.

ساینس یا پوهنه د تمدونونو بنسټ جوړوي، د نوي ساینس کشفونه په خلکو کې تجسسونه راپاروي. دغه نوي ساینس هغه څه تشریح کوي، کوم څه چې تر دې مخه د نه پوهیدو وړ وو. حتی ساینس کولي شي ، چې نړۍ یوه ښه مسیر ته رهنمایي کړي،خو څه پیښیږي، کله چې مخترع ځیرونکي په خپله ونده باندې پیښیماني څرګنده کړي.؟

په دې لیکنه کې د اټوم بم پلار کیسه راسپړل شوې، که د چا خوښه وي یا نه وي، خو جیلوس رابرټ اوپین هایمر یو تر ټولو مهمو علمي شخصیتونو څخه و، چې تر اوسه په دې برخه کې هغه کار او ژوند کړي دی.

دا خبره د اوپین هایمر فلم ډایرکټر کرستوفر نولان د خپل نوي فلم په اړه کړي. د اوپین هایمر په نامه فلم اوس د نړۍ په سینماګانو کې ننداري ته ایښودل شوي او ما لیکول هم له دې فلمه لیدنه کړې ده.

د فلم ډایرکټر کرستوفر نولان د اټوم بم تاریخ پیدایښت او د څېړل شوي فزېکپوه اوپین هایمر ژوند لیک په فلم کې بیانوي. په فلم باندې ډیرې نیوکې شته، خو په دغه درې ساعته فلم کې عجیبه خبره دا ده، فلم د اټوم بم جوړیدو او پراختیا په اړه دی، خو د هېروشیما او ناګاساکي اټومي برید یوه خبره یا صحنه په کې نه ښودل کیږي. ښایي د فلم ډایرکټر امریکایي جنګي جنایات یا وحشتونه په کې ښودل نه غواړي.

## د اټوم بم پلار چې رابرټ اوپين هايمر څوک و؟

رابرټ اوپين هايمر په ۱۹۰٤ کال د اپريل په۲۲ مه نېټه په نيويارک کې په يوه شتمنه يهودي ـ جرمن کډواله کورنۍ کې زيږېدلي. په ۱۸۸۸ کال کې يې کورنۍ د امريکا په متحده ايالاتو کې استوګنه شوي.

د هغه پلار د جرمني د هسين ايالت څخه د ټوکرانو واردونکي و. رابرټ په کوچنوالي کې بېلا بيل کيمياوي منرالونه راټولول او د نورو ماشومانو سره د لوبې پر ځای يې هغه په خپل ميکروسکوپ کې کتل.

مور او پلار يې رابرټ په ماشوماتوب کې يو نابغه باله او رابرټ هيڅ ډول ملګري نه درلودل.

هغه د ليسې څخه تر فارغيدو ورسته لومړی په هاورډ پوهنتون کې کيميا زده کړه او بيا يې د کيمبرج په پوهنتون کې فزيک زده کړو.

د کيمبرج لابراتوار هغه دومره ډير مايوسه او ستړي کړي و، چې کله نا کله به يې ځان پر ځمکه غورځولو.

ويل کيږي هغه يو ځلې هڅه وکړه، څو د خپل پوهنتون استاد د يوې زهرجنې مڼې په واسطه مسموم کړي او نږدې و چې رابرټ اوپين هايمر له دې امله له پوهنتونه وشړل شي.

هغه د خپل کاره د ناخوښۍ له امله په سخته رواني ناروغۍ اخته او په کې ډوب شوې و. د همدې رواني ناروغي په بهير کې يې غوښتل خپل استاد د زهرجنې مڼي په واسطه مسموم کړي. همدارنګه کله چې اوپين هايمر ته يوه نږدې ملګرې د خپل واده په اړه خبر ورکړ، هغه خپل ملګری تر ګريوان نيسي او نږدې و چې هغه ملګری زندۍ او ووژني.

رابرټ اوپين هايمر له ډېرو بيلا بېلو علومو سره ليوالتيا درلوده، په هارورډ پوهنتون کې يې کلاسيکه فلسفه، ختيځ پوهنه او طبيعي علوم زده کړل.

د هنرونو سربيره يې انځورګري، د فرويډ سيکالوجېکي تحليلونو او په ځانګړې توګه د لرغونو ژبو سره مينه درلوده.

نوموړي په پوهنتون کې يوناني ژبه زده کړه او ورسته يې په سنسکريت ژبه کې دومره ښه مهارت ترلاسه کړ، چې د هندي مذهب بهګواد ګيتا کتاب متونونه يې په اصلي ژبه کې لوستل.

رابرټ اوپين هايمر خپل مشهور اقتباس د همدې هندي کتاب په حوله کړي، په کوم کې چې هغه ځان د ''د جهانونو ويجاړونکي'' په توګه ګوري. په لويديځه نړۍ کې د يونان فلسفه په حقيقت کې د ساينس بنسټ ګڼل کيږي، خو رابرټ اوپين هايمر يو ځلې ويلي و، چې هغه د ختيځ فلسفه يا ليکنې تر يوناني فلسفې ډېرې ژورې او له مفهومه ډکې موندلې دي.

په ۱۹۲۲ کال کې ځوان رابرټ اوپين هايمر هارورډ پوهنتون کې زده کړې پيل کيږي، هغه د کيميا مضمون ليکچرونو سربيره د هنرونو او د مهندسي معماري ليکچرونو کې هم برخه اخيسته. د فزيک سره د هغه ليواتيا د پوهنتون په دريم کال پيل شوه.

په ۱۹۲۵ کال کې د هارورډ پوهنتون څخه د کيميا په برخه کې فارغ شو او بيا يې په انګليستان کې يو څه موده په کيمبرج کې د فاونډيشن کيميا په لابراتوار کې تېر کړل.

هغه مهال اروپا د فزيکپوهنې يو پرمختللي مرکز و، چيرته چې په ۱۹۲۰ د کوانتم فزيک تيوري يا د اټوم بم تيوري رامنځته شوې ده.

رابرټ اوپين هايمر له څه مودې وروسته بيرته جرمني ځي، تر څو د ګوټېنګن پوهنتون کې د کوانتم فزيک لوړې زده کړې ترسره کړي. په هغه وخت کې د جرمني ګوټينګن پوهنتون د کوانتم فزيک په برخه کې يو نامتو پوهنتون و.

....پاتې ليکنه په راتلونکې ګڼه کې



# بېله دنیا



ډاکټر محب زغم

سبرینا د دوهم پوړ برنډې ته راووته ، د کافي ګېلاس یې پر ګردي مېز کېښود. غځوونې یې وکړې،د برنډې د کټارې خوا ته ولاړه، د بلاک مخې ته پارک کې اتل په ټال کې ناست و، په لاس کې یې کتاب و.

سبرینا د هغه په لیدو چورتي غوندې شوه له ځانه سره یې وویل: ده ته مې څه ویل؟

سترګې یې د بېرې پر هغه موډل ولګېدې چې په پارک کې د ماشومانو د لوبو لپاره درول شوې وه. بېرې اوبه ور په یاد کړې، اوبو سیند ...

په بېړه کور ته ننوته. شېبه وروسته د ټال په څنګ کې ولاړه وه. پر اتل باندې یې غږ وکړ: سهار په خیر اتله! پوهېږې؟ بېګا مې په خوب کې ولیدې.

اتل یوه ګوته د کتاب په لوستل شوي ځای کې ونیوه او کتاب یې بند کړ: ښه دې ولیدم. جالبه ده!

جالبه خو خود ده. ډېره جالبه! اوس مې چې ولیدې را په زړه شو. په منډه راغلم چې کیسه یې درته ووایم. البته که مزاحمت در ته نه وي.

نه، نه، هیله کوم. هسې هم مطالعې ستړی کړی وم. د جرمني ګرامر سرې ګنګس کوي.

سبرینا په بل ټال کې کېناسته. ویې ویل: دا خو ده. خو د خوب کیسه به درته وکړم چې هسې نه هېره مې شي. ته نو غوږ شه. مور او پلار دې د بلاک په صفري پوړ کې اوسېږي. مور دې یهوده ده، پلار دې افغان.

اتل موسک شو: یهوده؟ زما مور؟

سبرینا په جدي انداز وویل: خوب دی نو. کړکۍ نه ګوري چې مخامخ یو یا دوه کیلومتره لرې درې تنه نازي عسکر پر سړک باندې ولاړ دي. د یوه په لاس کې دوربین دی. هغه د سړک په سر د اېښې موانع له پاسه په دوربین کې ستاسو کور ته ګوري. پلار دې وایي «خدای دې وکي چې دې خوا ته را نه شي!» مور دې د هغوی ویډیو اخیستې وي، هغه مهال چې هغوی ملکي خلک ولي. اوس مور او پلار دې ډارېږي چې که هغوی راشي او د ویډیو هغه کسټ پیدا کړي نو کیسه به ختمه شي.

اتل وویل: خوب نه دی، سمه سناریو ده. هههههه. د نازیانو په وخت کې ویډیو کامرې کله دومره پرېماني وې چې هر څوک دې یې ولري. عجب تخیل لرې!

د سبرینا پر شونډو نرۍ موسکا تېره شوه. ویې ویل: ناولونه مې ډېر لوستي دي. په ویښه کې خو مې تخیل کار نه کوي خو په خوب کې بیا بد نه دی. ښه نو، بیا لاندې د بلاک دروازه ډبول کېږي. مور دې نېغه پر نیالۍ کېني. مور او پلار دې څنګ په څنګ پر غولې پراته وي. د کړکۍ په ببخ کې بیا یو ماشوم ویده دی. مور دې ټیکری په سر کوي. پلار دې ورته وایي: دوی به د ماشوم په خاطر راغلي وي چې ولې له را سره په یوه کوټه کې پروت دی. دوی به وایي چې دا کور درته مناسب نه دی، باید بل کور پیدا کړئ چې د خوب دوې کوټې ولري.

اتل بې له دې چې سبرینا ته وګوري، هماغسې چې په ټال کې یې ورو ورو ټالې وهله، پوښتنه وکړه: هغه ماشوم زه وم؟

هو. امممم، ګومان کوم چې ته وې. نه،نه. ته خو وروسته پیدا شوې. مور او پلار دې هاغه مهال لا اولاد نه درلود. نو

هغه ماشوم؟ خدای خبر. داسې ګڼوړ خوب مې و. ځینې صحنې یې را ته تتې ښکاري. ښه نو، مور دې د اپارتمان ور پرانیزي. ګاونډی ښځه له ډاره رېږدي. وایي «ته راسره ځې چې دروازه بېرته کم؟» مور دې د هغې مټ سولوي. وایي «مه ډارېږه! زه درسره یمه.» نازي عسکر درپیم پوړ ته خېژي. هلته هم یوه افغانه کورنۍ اوسېږي. له نازیانو سره په برګه عسکري دریشۍ کې یو بل برېتور هم وي. سترګې یې شنې دي خو ویښتان یې تور. په سر یې سره خولۍ ده. د هغې افغانې کورنۍ سړی خپلې ښځې ته د تاسو په ژبه کومه پټه خبره کوي. ژبه مو څه نومېږي، پستو؟ پاستو؟

اتل وویل: پښتو په «ښـ» لکه په جرمني کې چې «ایښ» وایې.

پښـ ـتو، پښـ ـتو. مننه. دغه بل چې له نازیانو سره ګرځي، ترجمان دی. هغه د کور څښتن ته په پښتو یو څه وایي خو بیا نازیانو ته بله خبره کوي. ګومان کوم چې د هغوی راز پټوي او نازیان تېر باسي. بیا دوهم پوړ ته کوزېږي. هغه چې تلاشي کړي، له بلاک څخه ووځي. مور او پلار دې خوشحاله وي چې له خطره بچ شوي دي خو هغوی بېرته راګرځي. پلار دې مور ته دې وایي چې ژر شه ویډیو پټه کړه. د نازیانو هغه ملګری چې پښتو وایي، غواړي خبره واړوي. پلار ته دې وایي «دا ماشوم ځو کلن دی؟» پلار دې وایي «لا خو پنځه کلن دی نو پروا نه کوي چې له مور سره په یوه کوټه کې څملي.» هغه ورته وایي «پنځه کلن نه، چې پنځه میاشتنی هم وي، بله کوټه کې به څملي. دا د دې وطن قانون دی.»

اتل ټال ودراوه. په خندا یې وویل: عجب تناقض او تضاد! نازي وګوره او ماشوم ته د خوب د جلا کوټې خبره وګوره.

درب شو. د ټال مخې ته یو توپ ولوېد.

د ببرۍ په موډل کې ولاړ ماشوم وویل: زما دی.

سبرینا توپ ور واچاوه. اتل هم له ټاله کښته شو.

سبرینا په بېړه وویل: بله صحنه مې را په یاد شوه. مور او پلار دې ستوني ستغ په هوا کې د سقوط په حال کې دي. لاندې سیند دی.

دواړه سوکه سوکه د شنې غونډۍ خوا ته روان شول.

سبرینا کیسه وغځوله: ګومان کوم چې په سړکونو کې چې د اوبلارو دغه ګردې اوسپنيزې دروازې دي، دا یې لرې کړې وه او سیند ته یې ور ټوپ کړی و. پلار دې ویل چې هغه ویډیو باید خوندي شي. پلار دې د اوبو په سر لاندې پروت دی، مور دې پرې د پاسه. دواړه ستوني ستغ. دواړه هوار غځېدلي وي. داسې لکه پلار دې چې له ځانه ببرۍ جوړه کړې وي او مور دې ژغوري.

اتل د غونډۍ په لمنه کې د یوې ونې بېخ ته پلتۍ ووهله. سبرینا یې څنګ ته کېناست.

اتل وویل: پلار مې رښتیا هم دغسې وکړ. ځان نه یې ببرۍ جوړه کړه. مور یې وژغورلو. هر پلار همداسې کوي.

سبرینا وویل: اوه! اوس پوهه شوم. حیرانه وم چې هغه د ببرۍ موډل چې وینم، ولې مې د خوب صحنې رایادېږي. ته په همدې وخت کې د مور په نس کې پیدا کېږې. نه، نه. له دې نه مخکې چې هغوی ځانونه اوبو ته وغورځوي، ته یې په نس کې پیدا کېږې. د توپ غونډې ګردی شی یې، لکه ججوری د هغې په ستوني کې را پیدا کېږې. هماغه ستا نطفه وي. مور دې د کوټې دېوال ته ډډه لګولې ده. پښې یې نس ته ورجوختې کړې دي. وایي ټول بدن مې سوی او خارښت کوي. بیا څوک ورته وایي چې دا هر څه د ماشوم په وجه دي، ته میندواره یې.

سبرینا اتل ته وکتل. هغه د ببرۍ موډل ته سترګې نیولې وې. نرۍ موسکا یې وکړه: موږ دغسې یو نو. له هماغه اوله مور ځورو، تر آخره پورې یې ځورو. هر وخت یې ځورو. ښه نو بیا؟

ته ودرېږېږېږېږه! هو. په سیند کې غټې ګارې دي، ګردې شوې، نیمایي په اوبه کې ډوبې، نیمایي د اوبو په سر. ګارې ډېرې دي، ګڼوړې پرتې دي. اوبه کمې دي خو ډېرې تېزې بهېږي. پلار دې ستونی ستغ لکه ببرۍ پروت دی او مور دې د پاسه ورباندې ستونې ستغ غځېدلې ده. اوبو په مخه کړي دي. پلار دې سر کوږ نیولی دی چې ګارو ته یې پام وي. په لاسونو د تګ لوری سموي چې له ګارو نه چپ شي. دلته دوی تر پله لاندې وي. زړه مې درزېږي. وایم تر پله چې ها خوا ته وځي، نازیان به یې ووینې. نازیان د سیند په غاړو کې پیره کوي او څوک چې د سیند له لارې تښتي، ولې یې. بیا ته پیدا شوې. په اسپانیا کې. مور او پلار دې اسپانیا ته تښتېدلي وو. ته

چې پیدا شوې، پلار په غېږ کې زنګولې. پوهېږې؟ ته د ببرۍ غونډې وې. نه، نه، د ببرۍ غونډې نه، سم دم ببرۍ وې خو ډېره وړوکې ببرۍ. هههههه. څومره احمقانه ده. کنه! خوب دی نو.

اتل هم وخندل: بلا کوې! دومره قوي فانتزي؟

سبرینا وویل: خو کاش په ویښه کې هم دغسې فانتزي ولرم. زړه مې غواړي کیسې ولیکم. لیکوالي مې خوښه ده خو چې قلم په ګوتو کې ونیسم، تخیل مې کار پرېږدي. یوه جمله لا نه شم لیکلی.

نو خوبونه دې ولیکه. بهترینې کیسې به وي.

که نور یې ولیکم که نه، دا خو به خامخا لیکم. دا بېخي بل رقم خوب و. هو رښتیا، بله صحنه مې رایاده شوه. ستاسو په کور کې یو کتاب وینم. ډېر زوړ کتاب. پوښ یې په ګرد سپېره دی. هغه پخواني کتابونه چې دي، همغسې پوښ یې دی، پېړ، سخت، څرمن وزمه. کتاب د بل چا په لاس کې وي. ما ته وایي دا وګوره. په ګوتو د کتاب د پوښتۍ له یوه ځای نه ګرد پاکوي. په طلایي رنګ لیک وي خو څلا یې نشته. لیک لکه حک شوی چې وي لږ زور دی. سم نه لوستل کېږي. بیا یې هم په ګوته پاکوو. لیک لږ لږ واضح کېږي. اوه! بخښنه غواړم! پای یې دردوونکی دی. همدومره بس دی. نور یې نه وایمه. هسې هم خوب و نو څه حقیقت خو نه و.

اتل چې زنه یې پر ورغوي او ورغوی یې پر زنګانه تکیه کړې و، سر اوچت کړ. پښې یې ورټولې کړې. ویې ویل: ته وا حقیقت دردوونکی نه دی؟ لطفاً! کیسه دې پوره کړه.

سبرینا یې سترګو ته وکتل. ویې ویل: هیله ده چې غمجن نه شې، خوب دی نو سړی څه ووایي. د کتاب پر پوښتۍ لیکلي دي چې ... امممم رښتیا هغه د ویډیو خبره نه وي. مور او پلار دې اصلاً همدغه کتاب له نازیانو نه پټ ساتي. د کتاب پر پوښتۍ لیکلي وي چې «لس میاشتې وروسته په اسپانیا کې مړ شو» توبرکلوز وژلی وي.

پلار دې یادوم.

د اتل په سترګو کې اوښکه وځلېده. ویې ویل: کاش داسې شوی وای.

غبر یې ژړغونی غونډې و.

سبرینا وویل: بخښنه غواړم چې خپه مې کړې. خووووو په دې ونه پوهېدم چې ولې وایې کاش دغسې شوی وای.

اتل پر زنګنو سر لګولی و. لاسونه یې له پښو نه چاپېر کړي وو. سونګېده.

سبرینا یې ژړا حس کړه. ورنژدې شوه. څټ یې په ورغوي وسولاوه. بیا یې بخښنه وغوښته.

اتل ژړل. کتاب یې د ګوتو له منځه ولوېد.

سبرینا کتاب راپورته کړ. غلې کېناسته. نه پوهېده چې څه ووایي یا څه وکړي چې اتل پرې آرام کاندي.

اتل بې له دې چې سر پورته کړي، وویل: لس

ژړا یې زور ونیوه. سبرینا یې بیا څټ وسولاوه. ویې ویل: وروسته به یې راته ووایې. اوس دې زړه تش کړه. وژاړه. زه همدلته یم. درسره یم.

اتل وویل: لس میاشتې.

ژړا وار ورنه کړ.

درېیم ځل یې هڅه وکړه: لس میاشتې یې وشوې.

دا وار یې ځان قابو کړ: خو کاش ستا د خوب غونډې توبرکلوز وژلی وای. کاش هغه وخت مړ وای چې ډېر کوچنی وم. داسې وخت چې زما به نه یادېده. چې هېڅ خاطره مې ورنه نه درلودلای. لکه ستا په خوب کې چې نوی زېږېدلی وم. کاش هغه مې نه یادېدلای.

کاش ویلي مې درته نه وای.

اتل نرۍ موسکا وکړه: نو څه به بدل شوی وای؟ ګناه ستا نه ده. لطفاً بخښنه مه غواړه. بخښنه دې هغوی وغواړي چې ګناه یې کړې ده، جنایت یې کړی دی. پوهېږې! وژلي یې هم مور یو او عفوه هم مور ته کوي.

طالبان یادوې؟

هو. دغه د سپي زامن یادوم.

پلار دې هغوی وژلی؟

ټوک ټوک یې کړی و. په موټر یې مقناطیسي بم لګولی و. د موټر ټوټې او د آغا د غوښو ټوټې سره ګډې وې.

اتل د لاسونو ورغوو ته وکتل. ویې ویل: په همدې لاسونو مې د آغا د غوښو ټوټې راټولې کړې. لیکوال و. تا غونډې

پر کیسو مین و. ما به کله کله ورسره لانجه کوله. ځواني ده نو سړی کله کله اوتي بوتي وايي. ورته ویل به مي چې هسې دې وخت ضایع کوې. په دې وطن کې نو کتاب څوک لولي چې ته يې ورته لیکې. ده به ویل: بې لیکلو مې نه کېږي. لکه په بدن کې مې چې آبسه وي. د آبسې درد په هېڅ شي نه کرارېږي. یوازې په دې کرارېږي چې زوه ترې وباسې، چې تخلیه یې کړې.

سبرينا د اتل مټ وسولاوه.

اتل نرۍ موسکا وکړه. بیا يې وویل: ښه خبر وو چې ژوند ته يې خطر دی. ډېر کله به مي مور سره جنګونه کول چې ولې آغا نه مجبوروي چې خارج ته لاړ شو. مور مې ګرمه نه وه. آغا د هېچا نه منله. هلته حالات ډېر خراب وو. طالبانو په موټرو مقناطيسي ماینونه نښلول. داسې ورځ نه وه چې په کابل کې دې چاودنه ونه شي. څوک يې په مرمۍ ویشتل، څوک يې په بم الوځول. پلار ته مې اعصاب خراب وو چې ولې مو خارج ته نه باسي. کاش چې ځورولی مې نه وای. زه بد هلک وم، ډېر بد.

سبرينا يې لاس په ورغوي کې ټینګ کړ. ویې ویل: ځان مه ملامتوه. ته ګرم نه وې. تا د ټولو خیر غوښت.

اتل په پټه خوله لړ غوندې وموسېد. په ټیټ غږ يې وویل: مننه.

دواړه پاڅېدل. نري سړک ته کښته شول.

اتل وویل: يوه شېبه! تا ویل لس میاشتې، په اسپانیا کې ...

هو. همداسې وه.

ته راځه!

اتل ګامونه چټک کړل. سبرينا هم ورسره چابکه شوه.

اتل د بلاک د دروازې مخې ته پر یوې ګوښې کېناست. د برق د ساکټ په اندازه د ژړو درې مربع شکله لوحې پر سړک ښخې وې. دوې ځنګ په ځنګ او بله ترې لاندې د دواړه په وسط کې. اتل پر یوې لوحې ګوتې تېرې کړې. ویې ویل: دا وګوره! «آلفرډ دویچ – تولد ۱۹۰۵ – په ۱۹۴۲ کې اسپانیا ته فرار شو – لس میاشتې وروسته هلته مړ شو».

سبرينا وویل: نه! باور مې نه کېږي. دا نو څنګه کېدای شي؟

اتل ور وکتل: دا دې نه وه لوستې؟

نه، نه. باور وکړه. اصلاً. بښخي مې ورکتلي هم نه دي.

دا بله وګوره. «انا دویچ – تولد ۱۹۰۸ – په ۱۹۴۲ کې اسپانیا ته فراره شوه – مړینه ۱۹۷۸» دا به يې مېرمن وه.

سبرينا د دریېمې لوحې لیک ولوست: «هانس دویچ – تولد ۱۹۴۲ — مړینه ۲۰۲۰» او دا به يې زوی وي. پوهېږې؟ د هغه کتاب عنوان همدغسې و. کټ مټ همدغسې و. نه لړ توپیر لري. د دې لیک رنګ تور دی ځمکه يې طلايي ده خو د هغه کتاب پوښتی توره وه، عنوان يې طلايي. رښتیا ته ځنګه وپوهېدې چې پر دې لوحو نومونه او سنې حک شوي دي.

د کورس استادې را ته وویل. یوه ورځ چې له کورسه ووتو، ګومان کوم چې ته په هغه ورځ نه وې راغلې، په لاره کې يې را وښودلې. د هر کور مخې ته د هغو یهودانو معلومات دي چې په کې اوسېدل. نو آلفرډ دویچ او انا له هانس سره په همدې بلاک کې وو. سړی څه پوه شي، کېدای شي چې همدا ستا په اپارتمان کې به اوسېدل.

سبرينا د خپل اپارتمان برنډې ته وکتل.

اتل د سړک بلې غاړې ته اشاره وکړه: هغه نورې لوحې ولوله. اکثره يې وژل شوي دي. آلفرډ نېکمرغه و چې تښتېدلی و.

دواړه پاڅېدل.

اتل وویل: مننه چې د خوب کیسه دې را ته وکړه.

هیله کوم. دردوونکې وه. ته مې هم و دردولې. خو دې ته چورت وړی یم چې زما خوب ته دغه شان څنګه راغلی دی. نه مې دا لوحې کتلې وې، نه مې يې په اړه اورېدلي وو. اسپانیا ته تېښته، لس میاشتې وروسته، یو زوی ... دا څنګه کېدای شي؟ بښخي يې ګنګسه کړې یم.

نه پوهېږم. خوب بېله دنیا ده. له وطنه احوال لرې؟ پلار دې ښه دی؟

ښه دی خو ورته سودا مې ده. لس وارې مې ورته وویل چې ته خو معلم يې، ستا يې له ځګړې سره څه. وايي چې پخپله د وطن دفاع ونه کړم نو شاګردانو ته به مې وطنپالنه څنګه وروزده کړم.

بده خو ولله که وايي.

اممممم. څه ووایم. ډارېږمه. پرون يې ویډیو راليږلې وه. د روسانو ټانکونه يې ویشتلي وو. ده او ملګرو يې خوشحالي کوله.

اولڅېن، جرمني




# د افغانستان وروستی ملي سرود

په افغانستان کې لومړی ملي سرود، د امان الله خان د واکمنی پر مهال جوړ شو، چې اماني سرود یې باله، له هغه وروسته بیا څو ځله دا سرود بدل شو او ځای یې نورو سرودونو او ترانو ونیوه.

په ۲۰۰۳ کال کې په افغانستان کې د لویې جرګې له لوري نوی اساسي قانون تصویب شو.

د دغه اساسي قانون په شلمه ماده کې ویل شوي وو چې، د افغانستان ملي سرود په پښتو ژبه دی او د افغانستان د ملیتونو او الله اکبر یادونه به پکې کیږي.

له همدې کبله د اساسي قانون له شرایطو سره سم، وروستی ملي سرود د کانکور له مخې غوره شو.

د دې سرود شعر د عبدالباري جهاني دی او کمپوز یې ببرک ویسا جوړ کړی. دا سرود په ۲۰۰۶ کال کې د عبدالوهاب مددي، صادق فطرت (ناشناس)، پیکر افسانه، حسین ارمان، مشعل ارمان، شهنا او څو نورو هنرمندانو له‌خوا د جرمني په برلین کې ثبت شو.

په تېرو ۲۰ کالونو کې همدا سرود د افغانستان د درې رنګه ملي بیرغ ترڅنګ، د نړۍ د هېوادونو په منځ کې، د افغانستان د هویت په توګه پېژندل کیږي.

د یادونې وړ ده چې په ۲۰۲۱ کال کې د طالبانو واکمنۍ پیلېدو وروسته افغانستان ملي سرود نه لري.

| ملي سرود | | |
|---|---|---|
| دا وطن افغانستان دی<br>دا عزت د هر افغان دی<br>کور د سولې، کور د تورې<br>هر بچی یې قهرمان دی | Dā watan Afγānistān dai,<br>dā izat də har Afγān dai<br>Kor də sule, kor də ture,<br>har bačai ye qahramān dai | Dieses Land ist Afghanistan,<br>es ist der Stolz aller Afghanen,<br>Das Land des Friedens, das Land des Schwerts,<br>Alle seine Söhne sind tapfer. |
| **2. Strophe** | | |
| دا وطن د ټولو کور دی<br>د بلوڅو، د ازبکو<br>پښتنو او هزاره و<br>د ترکمنو، د تاجکو | Dā watan də ttolo kor dai,<br>də Balotso, də Uzbəko<br>Paxtano aw Hazārāo,<br>də Turkməno, də Tāǰəko | Das Land aller Stämme,<br>Land der Belutschen und Usbeken,<br>Paschtunen und Hazara,<br>Turkmenen und Tadschiken. |
| **3. Strophe** | | |
| ور سره عرب، گوجر دي<br>پاميريان،نورستانيان<br>براهوي دي، قزلباش دي<br>هم ايماق، هم پشايان | Wər sara Arəb, Guǰər di,<br>Pāmiryān, Nuristānyān<br>Brāhuwi di, Qizilbāsh di,<br>ham Aimāq, ham Pašāyān | Mit ihnen Araber und Gojaren,<br>Bewohner des Pamir, Nuristani,<br>Barahawi und Qizilbasch,<br>Auch Aimaken und Paschaye. |
| **4. Strophe** | | |
| دا هيواد به تل ځليږي<br>لکه لمر پر شنه آسمان<br>په سينې کې د آسيا به<br>لکه زړه وي جاويدان | Dā hiwād ba təl dzaleγi,<br>ləka lmar pər šnə āsmān<br>Pə sine ke də Āsyā ba,<br>ləka zrrə wi ǰāwidān | Dieses Land wird ewig leuchten<br>Wie die Sonne am blauen Himmel.<br>In der Brust Asiens<br>Wird es ewig als Herz vorhanden sein. |
| **5. Strophe** | | |
| نوم د حق مو دی رهبر<br>وايو الله اکبر<br>وايو الله اکبر<br>وايو الله اکبر | Num də haq mo dai rahbar,<br>Wāyu Allāhu Akbar,<br>Wāyu Allāhu Akbar,<br>Wāyu Allāhu Akbar | Wir folgen dem einen Gott,<br>Wir alle sagen: Gott ist am größten,<br>Wir alle sagen: Gott ist am größten,<br>Wir alle sagen: Gott ist am größten. |



# د جرمني ملي سرود

د جرمني د ملي سرود شاعر اگست هاينريښ هوفمن فون لالرزلېبن (August Heinrich Hoffmann von Fallersleben) دی او د دې سرود شعر يې د ۱۸۴۱ زېږديز کال د اگست مياشتې په ۲۶مه نېټه ليکلی دی.

د سرود کمپوز بيا له يوې زړې سندرې اخستل شوی دی، چې په ۱۷۹۷ کال کې د فرانتس يوزف هايدن (Franz Joseph Haydn) له لورې د جرمني او روم د امپراتور ستاينه پکې شوې وه.

دا سرود په ۱۹۲۲ کال کې د هغه وخت د ولسمشر فريدريښ ايبرت له لورې د ملي سرود په توگه غوره شو.

له ۱۹۳۵ څخه تر ۱۹۴۵کال پورې د نازيانو په واکمنۍ کې د دې سرود لومړی پارگراف د ملي سرود په توگه کارېده، خو هغوی د دې سرود تر څنگ، د خپل گوند سندره هم غږوله.

د هتلر له ماتې وروسته تر ۱۹۵۲ کال پورې لويديځ جرمني هېڅ ملي سرود نه درلود، خو په ختيځ جرمني کې، له ورانيو راپورته کېدل (Auferstanden aus Ruinen) ملي سرود و.

په ۱۹۵۲ کال کې د لويديځ جرمني د وخت ولسمشر، د پخواني ملي سرود، دريېم پاراگراف د ملي سرود لپاره غوره کړ.

په ۱۹۹۰ کال کې د ختيځ او لويديځ جرمني له يوځای کېدو وروسته، همدا دريېم پارگراف د متحد جرمني د ملي سرود په توگه غوره شو او تر اوسه کارول کيږي.

| ملي سرود | |
|---|---|
| **Das Lied der Deutschen**<br><br>Deutschland, Deutschland über alles,<br>Über alles in der Welt,<br>Wenn es stets zu Schutz und Trutze<br>Brüderlich zusammenhält,<br>Von der Maas bis an die Memel,<br>Von der Etsch bis an den Belt –<br>Deutschland, Deutschland über alles,<br>Über alles in der Welt!<br>-<br>Deutsche Frauen, deutsche Treue,<br>Deutscher Wein und deutscher Sang<br>Sollen in der Welt behalten<br>Ihren alten schönen Klang,<br>Uns zu edler Tat begeistern<br>Unser ganzes Leben lang –<br>Deutsche Frauen, deutsche Treue,<br>Deutscher Wein und deutscher Sang!<br>-<br>Einigkeit und Recht und Freiheit<br>Für das deutsche Vaterland!<br>Danach lasst uns alle streben<br>Brüderlich mit Herz und Hand!<br>Einigkeit und Recht und Freiheit<br>Sind des Glückes Unterpfand[4] –<br>Blüh im Glanze dieses Glückes,<br>Blühe, deutsches Vaterland! | **لومړی پاراګراف:**<br>جرمني جرمني، له هرڅه لوړ<br>په ټوله نړۍ کې، له هرڅه لوړ<br>هر وخت د دفاع او ساتنې پر وخت<br>د وروڼو په شان یو تن<br>له ماس څخه تر میمیل پورې<br>له اېچ څخه تر بېلت پورې<br>جرمني جرمني، له هرڅه لوړ<br>په ټوله نړۍ کې، له هرڅه لوړ<br><br>**دوهم پاراګراف:**<br>جرمني ښځې، جرمني ته وفاداري<br>د جرمني شراب او د جرمني سندرې<br>باید په نړۍ کې<br>خپل زوړ ښکلی غږ وساتي<br>او موږ نېکو کارونو ته وهڅوي<br>زموږ په ټول ژوند کې<br>جرمني ښځې، جرمني ته وفاداري<br>د جرمني شراب او د جرمني سندرې<br><br>**درېیم پارګراف:**<br>یووالی، قانون او ازادي<br>پلرني وطن، جرمني ته!<br>راځئ ټول د همدې موخې لپاره هڅه وکړو<br>په ورورۍ، په زړونو او لاسونو<br>یووالی، قانون او ازادي<br>زموږ د نېکمرغۍ دلیل دي<br>د دې بخت په رڼا کې راوټوکېږه<br>راوټوکېږه، پلرنې ټاټوبیه جرمني |









# په جرمني کې د ماشومانو پالنه

هندبوک جرمني

## څوک له والدینو سره د ماشومانو په پالنه کې مرسته کوي؟

میندې او پلرونه یوازې د ماشومانو د لویولو دنده نه لري، بلکې د هغوی د روزنې او پالنې دنده هم پر غاړه لري. دا چې خپل اولادونه څه ډول روزئ، تاکنه ستاسې په لاس کې ده. په ډېرو کورنیو کې له ماشومانو او ځوانانو سره جنجالونه او دعوې د ورځنې ژوند برخه وي. په ورځني ژوند، ورکتون او ښوونځیو کې د ماشومانو غوښتنې زیاتې وي او دوی ډېر وخت له فشار او سټرېس سره مخ کیږي.

آیا ماشوم مو ټوله شپه ژاړي؟ ماشوم مو ملګري نه شي موندلای؟ نوي ځوان شوي بچیان نور ستاسې خبرو ته غوږ نه ږدي او د شپې ډېر ناوخته کور ته راځي؟ ماشوم مو ډېر وخت شخړې کوي او په خپله کوټه کې یوازې پاته کیږي؟ ماشوم مو ټول وخت له کمپیوټر او موبایل سره تېروي؟ ماشوم مو په ښوونځي کې او یا له پولیسو سره جنجال کړی دی؟...اندېښنه مه کوئ. تاسې له خپلو ستونزو سره یوازې نه یاست. په جرمني کې د مشورتي ادارو او مرستندویو بنسټونو یوه پراخه شبکه د ماشومانو په روزنه او پالنه کې له والدینو سره مرسته کوي.

مهم: په جرمني کې څوک د ماشومانو د وهلو او رټلو اجازه نه لري. د مدني قانون د ۱۶۳۱ بند له مخې ماشومانو ته بدني یا روحي سزا او شکنجه ورکول منعه دي. په دې بندیز کې د بېلګې په شان په څپېړه وهل، نتل، بندي کول، له وېښتو کشول، پوستکی چیچل، غابښ لګول، تهدیدول او دې ته ورته نورې ناوړه کارونه شامل دي. که یوګندامت د ورکتون، ګاونډیانو یا ښوونځي له لارې په دې کړنو خبر شي، قانوني ګامونه به واخلي او په دې اړه به پلټنې وکړي. په دې اړه نور مالومات زموږ په بل څپرکي (د ځوانانو او ماشومانو اداره یا یوګندامت) کې لوستلای شئ.

## له کوم ځایه مرسته ترلاسه کولای شم؟

د میندو او پلرونو لپاره بېړنۍ شمېره

د والدینو بېړنۍ شمېرې (Elternhotline) ته وړیا او په ناپېژانده توګه زنګ وهلای او د ماشومانو د پالنې په اړه ترې پوښتنې کولای شئ. تاسې کولای شئ د دې ادارې مامورینو ته د خپلو ستونزو او اندېښنو په اړه ووایئ. دوی به ستاسې خبرې واوري او له تاسې سره په ګډه به د یوه حل لټون وکړي. د دوی شمېرې (۰۸۰۰ ۱۱۱ ۰۵۵۰ ۷۷ ۱۸ ۷۷۷ ۰۸۰۰) ته هره ورځ د سهار له نهو بیا د مازدیګر تر ۵ بجو زنګ وهلای او په انګلیسي او جرمني ژبو خپله ستونزه شریکولای شئ. همدا شان (fraguns@elternhotline.de) پتې ته په جرمني، انګلیسي، فارسي او نورو ګڼو ژبو برېښنالیک لېږلای شئ. د دې ادارې کارکوونکي به تاسې ته په ۲۴ ساعتونو کې ځواب درکړي.



## مخکې له مخکې مرسته

ځوان میندې او پلرونه د مخکې له مخکې مرستې (Frühen Hilfen) په وسیله وړیا مشوره او مرسته ترلاسه کولای شئ. د ماشومانو د پالنې لپاره دا ډول مرسته له امېدوارۍ نیولې بیا د ماشوم تر ۳ کلنۍ پورې کېږي. که د ماشومانو په روزنه او پالنه کې له ستونزو سره مخ یاست او یا غواړئ د هغوی د پالنې لپاره مشوره ترلاسه کړئ، په خپله سیمه کې د مخکې له مخکې مرستې ادارو له یوې څانګې سره اړیکه ونیسئ. دوی په بېلابېلو برخو کې ستاسې مرسته کوي. د بېلګې په توګه ښايي یوه کورنۍ پالندویه (هېباما) ستاسې کور ته د مشورو درکولو لپاره راشي او یا تاسې له نورو کورنیو سره یوځای د میندو او پلرونو مشورتي مرکزونو ته دعوت شئ. دا ټول ټولې مرستې وړیا دي.

په مشورتي مرکزونو کې د بېلابېلو موضوعاتو په اړه سلا ترلاسه کولای شئ. د مخکې له مخکې مرستې ادارو یوه څانګه پر (elternsein.info) وېبسایټ موندلای شئ.

مهم: ځینې ماشومان ډېر ژاړي. ځینې میندې او پلرونه په دې اړه ډېر اندېښمن وي. که تاسې هم له داسې حالت سره مخ یاست، کولای شئ د ژړا امبولانس (Schreiambulanz) په نوم له ادارې سره اړیکه ونیسئ. دا اداره د ډېرو ژړېدونکو ماشومانو له میندو او پلرونو سره مرسته کوي. پر (Nationalen Zentrums Frühe Hilfen) وېبسایټ د ژړا د امبولانس یوه نږدې څانګه موندلای شئ.

## د کورنیو او پالندویانو مشورتي مرکزونه

د کورنیو او پالندویانو مشورتي مرکزونه د هر عمر ماشومانو له میندو او پلرونو سره مرسته کوي. که د خپل ماشوم په پاللو کې له ستونزو سره مخ یاست، کولای شئ هر وخت د کورنیو او پالندویانو له مشورتي مرکزونو سره اړیکه ونیسئ. دوی به ستاسې خبرې واوري او له تاسې سره په ګډه به د یوه حل لټون وکړي. پر (bke.de) وېبسایټ د دې ادارو یوه تر ټولو نږدې څانګه موندلای شئ. د کورنیو او پالندویانو د مشورتي مرکزونو مرسته او مشوره وړیا ده.

## د کډوالو والدینو لپاره د والدینو کورسونه

له ۵ کالونو د ټیټو ماشومانو د میندو او پلرونو لپاره ځانګړي کورسونه (Elternkurse) هم شته. په دې کورسونو د ماشومانو د میندو او پلرونو ته د ماشومانو د روزنې په موده کې له ذهني فشار او سټرس سره د مقابلې او ماشومانو د پاللو لارې چارې ورښوول کېږي. هلته له نورو والدینو سره هم خبرې اترې کولای او خپلې تجربې شریکولای شئ. دا کورسونه ښايي په ګڼو ژبو وي او په برلین، بن، کوتبوس، فیورستنوالده، اېرفورت، لایپزیک، منهایم، پاینه او پوتسدام کې شته. دا کورسونه وړیا دي او د کورس پر مهال مو ماشومان هم درته ساتل کېږي. د دې کورسونو پتې او نور مالومات پر (rescue.org) وېبسایټ موندلای شئ.

## د والدینو ناستې

په کابو ټولو ګڼمېشته سیمو کې د والدینو ناستې (-Eltern Mütter/Väter-Kind-) Treffs) یا د مور/پلار-ماشوم ډلې (Gruppen) شته. هلته له نورو میندو او پلرونو سره لیدلای کتلای او په ګډو موضوعګانو خبرې کولای شئ. همدا ډول ستاسې ماشومان ښايي هلته له نورو ماشومانو سره لوبې وکړي او ملګري ومومي. د والدینو د ناستو موندلو لپاره د خپلې سیمې په ټولنیزو یا کلتوري مرکزونو کې پوښتنه وکړئ او یا هم د کورنیو او پالندویي په مشورتي مرکزونو کې له اړونده مامورینو پوښتنه وکړئ. پر (bke.de) وېبسایټ د د کورنیو او پالندویانو مشورتي مرکزونو یوه تر ټولو نږدې څانګه موندلای شئ. د والدینو بېړنۍ شمېرې (Elternhotline) ته هم وړیا زنګ وهلای او په دې اړه پوښتنه ترې کولای شئ.

**مهم: په جرمني کې څوک د ماشومانو د وهلو او رټلو اجازه نه لري. د مدني قانون د ۱۶۳۱ بند له مخې ماشومانو ته بدني یا روحي سزا او شکنجه ورکول منعه دي. په دې بندیز کې د بېلګې په شان په څپېړه وهل، نتل، بندي کول، له وېښتو کشول، پوستکی چیچل، غابښ لګول، تهدیدول او دې ته ورته نورې ناوړه کړونه شامل دي.**

## د ماشومانو او ځوانانو مرسته

د ماشومانو او ځوانانو مرسته (Kinder- und Jugendhilfe) له والدینو سره د کورنیو شخړو او جنجالونو په حلولو کې مرسته کوي. هرې ستونزې ته په کتو بېله حللاره غوره کیږي. د بېلګې په توګه ښایي د والدینو کورس ته وروپېژندل شئ او یا د پالنې د روزل شوي سلاکار له لوري مرسته ترلاسه کړئ. دا هم شونې ده چې د کورنیو ستونزو یوه مرستندویه ستاسې کور ته راشي او سلامشوره درکړي. د ماشومانو او ځوانانو مرسته د بېلابېلو ادارو له لوري وړاندې کیږي او د ترلاسه کولول لپاره له خپل اړوند یوګندامت سره اړیکه نیولای شئ. د خپلې سیمې اړوند یوګندامت پر (familienportal.de) وېبسایټ موندلای شئ. دا ډول مرستې وړیا دي او له کورنیو سره د ستونزو په حل کولو کې ډېره مرسته کولای شئ.

## له کورنیو سره ټولنیزه-روزنیزه مرسته

ټولنیزه-روزنیزه مرسته (Sozialpädagogische Familienhilfe) د والدینو او د هغوی د ماشومانو لپاره د یوګندامت یو وړیا وړاندیز دی. د دې مرسته په وسیله خپل‌منخي او یا له ادارو سره ستونزې حلولای شئ. د دې کار لپاره ځانګړي مرستندویان یا مرستندویانې (Familienhelfer*innen) شته چې د ژوند د سختو حالتونو او ستونزو په حلولو کې تخصص لري. له دې مرستندویانو سره په ګډه د ستونزو د حل لپاره پلان جوړیږي او په ګډه پلی کیږي. په داسې حالت کې مرستندویانې په منظم ډول له تاسې سره ګوري او د ستونزو او حالت په اړه خبرې درسره کوي. که له مرستندویانو سره مو ستونزه حل نه شي، دوی به د هغو ځایونو لټون وکړي، چېرته چې ستاسې ستونزې حلېدای شي. دا ځای ښایي یوه مشورتي اداره او یا د ارواپوهنې اړوند کوم کتنځای وي. کورنۍ مرستندویانې په معمول ډول په جرمني ژبه خبرې کوي او ځینې یې په انګلیسي ژبه هم پوهیږي. که تاسې په جرمني ژبه نه پوهیږئ، کولای شئ له ژباړن څخه مرسته وغواړئ. البته غوره ده چې لومړی له یوګندامت څخه د ژباړن د پیسو ورکولو په اړه پوښتنه وکړئ. که ځینو مرستندویانو سره جوړ رانه شئ، کولای شئ د بل مرستندوی غوښتنه وکړئ. د دې کار لپاره له یوګندامت سره اړیکه ونیسئ. یادونه: کورنۍ مرستندویانې یا مرستندویان د کورنیو چارو اړوند مرسته (Haushaltshilfen) نه کوي. د کورنیو چارو مرستندویان د بېلګې په توګه له تاسې سره مرسته کوي چې څه ډول پر یوه وخت د کور او دندې چارې مدیریت کړئ.

د کورنیو لپاره ټولنیزه-روزنیزه مرسته د خپلې سیمې له یوګندامت څخه غوښتلای شئ. په شاوخوا کې د یوګندامت اداره پر (.unterstuetzung-die-ankommt de) وېبسایټ موندلای شئ. د غوښتنلیک له وړاندې کولو وړاندې ښه ده چې د همدې ادارې له کارکوونکو سره مشوره وکړئ. په ځینو حالتونو کې ښایي یوګندامت خپله د دې مرستې سمبالښت وکړي او دا کار ښایي هغه مهال وشي چې د بېلګې په توګه محکمه یا یوګندامت ته څرګنده شي چې یوه کورنۍ ډېرې ستونزې لري او نه شي کولای خپله یې حل کړي.

یادونه: کورنۍ مرسته تاسې ته د سزا درکولو لپاره نه ده بلکې غواړي له تاسې سره مرسته وکړي څو ژوند مو په ښه توګه تېر شي او ستونزې مو حل شي. که د کورنۍ مرستې ترلاسه کولو سپارښتنه درته وشي، همکاري ورسره وکړئ او ګټه ترې واخلئ. په دې ډول تاسې ثابتوئ چې د خپلو کورنیو ستونزو د حل او حالت د ښه‌والي په لټه کې یاست. د یوګندامت د دندو او مسؤولیتونو په اړه بشپړ مالومات زموږ په بل مالوماتي څپرکي (د ماشومانو اداره یا یوګندامت) کې لوستلای شئ.

### مهم

که له ماشومانو سره ستونزه لرئ او یا د هغوی په پاللو کې سربداله یاست، کولای شئ د خپل ماشوم په وړکتون او یا ښوونځي کې له ښوونکو او روزونکو مرسته وغواړئ. دوی کولای شئ تاسې ټولنیزو کارکوونکو او د ماشومانو تخصصي مشورتي مرکزونو ته معرفي کړي.

# جرمني ژبه

ډاکټر عبدالغني مستغني

جرمني (Deutsch) ژبه یوه اروپايي ژبه ده ،چې تر ډېره د اروپا په مرکزي سیمو کې خبرې پرې کیږي. دا ژبه په رسمي او پراخه توګه په جرمني، اتریش، سویس، لیختېن شتاین او د ایټالیا په شمالي برخو کې ویل کیږي.

همدارنګه دا ژبه په لوګزمبورګ او بلجیم هیوادونو کې هم یوه رسمي ژبه ده (خو د اکثریتو ژبه نه ده)جرمني ژبه د ریښو له نظره هالنډي او انګریزي ژبو ته ډېره ورته او نږدې ده.

جرمني ژبه د نړۍ یوه له مهمو ژبو څخه ده او په ټوله نړۍ کې د څه باندې ۹۵ ملیونو خلکو مورنۍ ژبه ده او دا ژبه په اروپايي اتحادیه کې د مورنۍ ژبې په توګه په پراخه کچه ویل کیږي.

په متحده ایالاتو کې (له هسپانوي او فرانسوي وروسته) او په اروپايي اتحادیه کې (له انګلیسي او فرانسوي وروسته) دریمه تر ټولو پراخه تدریس شوې ژبه ده. الماني ژبه په نړۍ کې د مقالو د شمېر له امله دویمه ساینسي ژبه ده او په انټرنېټ کې له انګلیسي او روسی ژبې وروسته دریمه عامه ژبه ده.

دغه ژبه په نړۍ د چاپ شویو کتابونو د شمېر له مخې پنځم ځای لري.

د جرمني ژبې د ډېرو کلمو ریښه د هند-اروپايي ژبو کورنۍ پورې اړوند کیږي. په دې ژبه کې د کلمو یوه ډله لاتیني یا یوناني ریښې لري، او لږ شمیر یې د فرانسوي یا انګریزي ژبو څخه اخیستل شوي دي. دا ژبه هم د خپلو بېلابېلو توړو او لهجو له امله مشهوره ده.

## د جرمني ژبې د زده کړې کچې

په حقیقت کې، د جرمني ژبې مختلفې کچې چې د CEFR سازمان لخوا تعریف شوي، دا ټاکي چې تاسو په جرمني ژبه څومره مسلط یاست؟

دا کچې په ټوله کې په دریولاندې ډلو ویشل شوې دي.

- لومړنی یا بنستیزه کچه: A2- A1,
- منځنۍ کچه: - B2 - B1,
- پرمختلې کچه: - C2 - C1,

په لومړنی کچه کې A1 او A2 شامل دي.

### A1 کچه:

له دې کچې فارغ شوی زده کوونکي کولی شي، چې عمومي او ځانګړو اړتیاو پورې اړوند ورځنۍ کلمې او اساسي جملې درک او وکاروي. همدارنګه، زده کوونکي به وکولی شي ځان معرفي کړي او له نورو سره د ورځنۍ اړیکو اړوند پوښتنې وکړي.

### A2 کچه:

د دې درجې له بشپړولو وروسته، زده کوونکي کولی شي په هغو کلمو ښه پوه شي، چې د ځینو موضوعاتو په اړه خورا ډېر کارول کیږي، دبېلګې په توګه: د خپل ځان او کورنۍ په اړه معلومات، پیر او پلور، کار او شاوخوا چاپیریال ،عام حالات.

په منځنۍ کچه کې B1 او B2 شامل دي.

### B1 کچه:

د دې درجې زده کوونکي کولی شي، چې دژبې کورس له بشپړولو وروسته، د معیاري ژبې په کارولو سره په اصلي خبرو او ټکو پوه شي.

دوی کولای شي چې خپلې هغه ستونزې تر ډیره بریده حل کړي، چې جرمني ته د راتګ پرمهال ورسره مخ کیږي.

همدارنګه دوی د ساده او دوام داره جملو په کارولو سره ، د پېژندل شویو او مشهورو شیانو په اړه د خبرو کولو وړتیا پیدا کوي.

## B2 کچه:

د دې کچې زده کوونکي کولی شي، د ځانګړو موضوعاتو په اړه خبرې وکړي، د ستونزمنو لیکنو اصلي ټکي درک کړي او په خپل ځانګړې تخصصي چاپېریال کې ځانګړي بحثونو او موضات تعقیب و څاري.
د بیلګې په توګه: دوی کولی شي په هغو ټولګیو کې برخه واخلي او په خبرو پوه شي، چې په جرمني ژبه تدریس کیږي.
همدارنګه زده کوونکي به د دې وړتیا ولري، چې له مخکې چمتووالي پرته په روان او دوامداره توګه خبرې وکړي.
دا زده کوونکي به پرته له کومې ستونزې، هغو وګړو سره خبرې وکړي چې جرمني یې مورنۍ ژبه وي.
په پرمختللې کچه کې C1 او C2 شامل دي.

## C1 کچه:

په دې کچه زد کوونکي کولی شي د لوړې کچې کلمو لړونکو لیکنو څخه مفهوم واخلي او په هغه شیانو پوه شي، چې په لنډ ډول یې یادونه شوې وي.
همدارنګه دوی کولی شي پرته له چمتووالي په روان ډول خبرې وکړي.

## C2 کچه:

د جرمني ژبې د کورس په دې کچه کې زد کوونکي له کومې ستونزې پرته هغه څه چې لولي یا اوري، پرې پوهیږي.
دوی کولی شي له بېلابېلو سرچینو څخه لیکلي یا شفاهي معلومات لنډیز کړي.
کېدای شي تاسو پوښتنه وکړئ، چې د هرې کچې زده کوونکی باید لږ تر لږه څومره لغتونه زده کړي.
یا په بله وینا، په هر کچه کې څومره لغات د زده کولو لپاره ځای پر ځای شوي؟
د دې پوښتنې ځواب تاسې په لاندې جدول کې موندلای شئ.

| شمېره | کچه | د لغاتو شمېر |
|---|---|---|
| ۱ | لومړنۍ یا بنسټیزه کچه: A1, A2 | ۱۰۰۰ تر ۲۰۰۰ |
| ۲ | منځنۍ کچه: B1, B2 | ۲۰۰۰ تر ۴۰۰۰ |
| ۳ | پرمختللې کچه: C1, C2 | تر ۵۰۰۰ |



# له ډاکټر سره چټک ترمین غواړئ؟

په جرمني کې ډېر کسان د ترمینونو له نه شتون څخه سر ټکوي او وايي چې له ډاکټرانو سره د اړتیا پر مهال ترمین نه شي ترلاسه کولای.

د دې ستونزې یوه حل لار «دوکتورلیب» وېب سایټ او اپ دی. پر دې وېبسایټ او یا اړوند اپ په اسانۍ، سملاسي او له زنګ وهلو پرته د هرې ستونزې لپاره ترمین نیولای شئ.

هلته په چپه خوا کې د تخصص، ډاکټر یا ستونزې نوم ولیکئ او په ښۍ خوا کړکۍ کې د خپل ښار نوم او یا پوستي کوډ ولیکئ او لټون وکړئ.

په بله مرحله کې اړوند مالومات ولولئ او یو ترمین واخلئ.

د یادونې وړ ده چې دلته هم ښايي نوي ناروغان له ځینو ډاکټرانو سره ثبت نه شي، خو دا شونتیا شته چې پر ځای یې په نږدې بله سیمه یا ښار کې بل ډاکټر ومومئ.

پر وېبسایټ د لیکل شوو شمېرو له مخې هلته شاوخوا درې لکه او خلوېښت زره ډاکټران او درملګر له دوی سره ثبت دي.

د یادونې وړ ده چې که عاجله ناروغي لرئ، روغتون ته ولاړ شئ او یا امبولانس ته زنګ ووهئ. البته که امبولانس راغواړئ، په خپلو پښو مه ورخېژئ، باید هومره ناروغ وئ پرېږدئ چې په کټ کې مو یوسي.

د لټون لپاره د بېلګې په توګه لاندې ټکي کارولای شئ:

- Haut- und Geschlechtskrankheiten / Dermatologie
- Orthopädie und Unfallchirurgie
- Augenheilkunde / Ophthalmologie
- Frauenheilkunde und Geburtshilfe
- Zahnmedizin
- Urologie
- Radiologie
- Allgemeinmedizin (Hausarzt)
- Neurologie
- Innere Medizin und Kardiologie
- Physiotherapie
- Hals-Nasen-Ohrenheilkunde (HNO)
- Gastroenterologie
- Psychiatrie und Psychotherapie
- Kinder- und Jugendmedizin
- Proktologie
- Osteopathie
- Innere Medizin und Rheumatologie
- Heilpraktiker
- Hautarzt / Dermatologe
- Orthopäde und Unfallchirurg
- Augenarzt / Ophthalmologe
- Frauenarzt / Gynäkologe
- Zahnarzt
- Urologe
- Radiologe
- Hausarzt / Allgemeinmediziner
- Neurologe
- Kardiologe

وېبسایټ: https://www.doctolib.de/

د اپ ترلاسه کولو لپاره په ګوګل پلې او یا پلې‌سټور کې (Doctolib) ولیکئ او اړوند اپ انسټال کړئ.

روغ او خوښ اوسئ.



## د ماشومانو نړۍ

# زمرى او سوى!



په ځنګله کې د يوه لوى زمري له ډاره به نور حيوانات ډاډه بيرون نه وتل، زمري به چې هر ځاى بل حيوان وليد نو ښکار کاوه به يې.

د ځنګله په يوه کونج کې ددې زمري کور ته هيڅوک نه شواى ور نږدې کيدلى او ټول ترې ډاريدل.

بله ورځ د ځنګله حيواناتو په خپلو کې مشوره وکړه او ويې ويل:

راځئ له زمري څخه ټول په شريکه وپوښتو چې موږ څه وکړو، چې نور مو ښکار نه کړي او موږ هم په ځنګله کې ارامه ژوند وکړو؟

ټول حيوانات په ګډه د زمري د کور خواته ور نږدې شول او په ويره ويره يې د زمري د را ويښيدو لپاره انتظار کاوه.

بالاخره زمرى را ويښ شو او دوى ټولو په يوه غږ ورته وويل، موږ نن يوې پوښتنې ته راغلي يو او پوښتنه داده، چې موږ څه وکړو چې ته مو نور بې رحمه ښکار نه کړې؟



زمري ورته وويل: يوازې يوه لاره شته او هغه دا چې ستاسو له ډلې هره ورځ يو ماته راشئ، بيا به زه هر ځاى ښکار نه کوم.

د ځنګله حيوانات بېرته خپلو ځايونو ته ولاړل او په سبا يې بيا سره را ټول شول؛ خو هيچا نه غوښتل چې زمري ته ورشي.

زرافې وپوښتل: نن څوک زمري ته ورځي؟

هيچا ځواب ورنه کړ؛ خو بالاخره يوې کوچنۍ بې جزه سويې غږ وکړ، زه چمتو يم نن زمري ته ورشم، ځکه زما د عمر ډېره برخه تېره ده او زه چمتو يم چې لومړى قرباني شم.

د سويې دې زړورتيا ټول حيران کړل او ټولو مننه ترې وکړه او د زمري په لور يې رخصت کړه.

د ځنګله په منځ سويې ډېر ناوخته کړ او زړه يې نه کېده چې د زمري ښکار شي؛ خو ناچارۍ په سر کړې وه.

کله چې سوى زمري ته ور ورسيده، نو زمرى ډېر غصه و او په تنده



لهجه یې ورته وویل:

ولې ناوخته راغلې؟

سویې ځواب ورکړ:

زه له کوره ډېره وختي راغلم؛ خو په لار کې یوه بل زمري ودرولم او هغه غوښتل ما وخوري؛ خو ما ورته وویل، چې ماته یو بل زمری انتظار دی؟

زمری نور هم غصه شو او ویې ویل؟

اه! بل زمری!؟ دا چا دومره جرات کړی چې دلته راشي او زما په شاوخوا کې ښکار وکړي، ژر یې ماته را وښیه.

سویې ځواب ورکړ:

هو! زه هم حیرانه یم چې څنګه بل زمری دلته راغلی؛ خو خیر ته مه ورځه ځکه هغه بل زمری ډېر لوی او خطرناک وو او ما ورسره ژمنه وکړه، چې زه ځم له بل زمري اجازه اخلم او که هغه اجازه راکړه بېرته به تاته راشم.

زمری له قهر نه نور هم سور شو او ویې ویل:

ما ژر ور وله، چې دا شیطان زه پیدا کړم.

له همدې سره دواړه هغه لوري ته روان شول، چې سویې ور ښوده بلاخره سویې زمری له اوبو د یوه ډک لوی کوهي غاړې ته ورساوه.

زمری پرته له دې چې فکر وکړي په بېړه یې اوبو ته ور ټوپ کړل، کله چې په اوبو کې ولوید پوه شو، چې هلته بل زمری نه و، بلکې ده خپله څېره په اوبو کې لیدلې ده؛ خو وخت تېرې تېر و.

په دې توګه د ځنګله ټول حیوانات د زمري له ښکار څخه خوندي شول.

## د کیسې پند:

کله داسې هم پیښیږي چې ډېر مغرور قدرتونه د یوه ډېر کمزوري قدرت له لوري مات شي.



## پښتو لیک ـ لوست

# د تورو پېژندنه



گرانو ماشومانو !!

پښتو خوږه ژبه د سيمې او نړۍ له لرغونو او پخوانيو ژبو شمېرل کيږي ،چې ميليونونه وګړي پرې خبرې کوي.

د پښتو لیک - لوست له پیل مخکې، راځئ چې د پښتو ژبې له تورو سره بلد شو.

په پښتو ليکدود کې ځلويښت توري کارول کيږي، چې لويه برخه يې له عربي الفبې څخه اخستل شوې، خو پښتو ژبه (اته) ځانګړي توري لري ، چې عبارت دي له : (څ ،ځ ،ږ ،ښ ، ډ ،ړ ،ټ ،ڼ)

نو راځئ چې لومړی د پښتو ژبې ټول توري زده کړو.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ا | ب | ت | ث | ټ |
| پ | ج | ح | خ | چ |
| څ | ځ | د | ذ | ډ |
| ر | ز | ړ | ږ | ژ |
| س | ش | ښ | ص | ض |
| ط | ظ | ع | غ | ف |
| ق | ک | ګ | ل | م |
| ن | ڼ | و | ه | ھ |
| ی | ي | ې | ۍ | ئ |





## د پښتو ژبې ځانګړي توري

| | | | |
|---|---|---|---|
| ځ | څ | ټ | ډ |
| ړ | ڼ | ږ | ښ |

کورنۍ دنده:

د الفبې لاندې توري
په ترتیب سره ولیکئ!

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ږ | م | ڼ | ی | ث |
| څ | ص | غ | و | ډ |
| س | ظ | ق | ځ | ه |
| ټ | ښ | ف | ج | ګ |
| چ | ل | ع | ا | ن |
| ذ | ړ | ط | ک | پ |
| خ | ض | ز | هه | ش |
| ژ | د | ب | ح | ر |
| ت | ي | ې | ۍ | ئ |



# د تابعیت ازموینه

# Einbürgerungstest



## په آلمان کی د ژوند کولو او د تابعیت اخیستلو لپاره

## In deutschland die Staatsbürgerschaft zu leben und erwerben

### د آلمان اصول او قوانین

### Deutsche Grundsätze und Gesetze

Frage# 20 von 300

**Eine Partei in Deutschland verfolgt das Ziel, eine Diktatur zu errichten. Sie ist dann …**

- Tolerant.
- Rechtsstaatlich Orientiert.
- Gesetzestreu.
- ✓ Verfassungswidrig.

له ۳۰۰ څخه ۲۰ پوښتنه

**که په جرمني کې یو گوند د دیکتاتورۍ د رامنځ ته کولو هدف تعقیبوي. نو دا کار …**

- زغمونکی(د خپلو مخالفینو پر وړاندې له سختدریځۍ څخه کار نه اخلې)
- د اساسي قانون پر بنسټ مخته ځې.
- د قانون اطاعت.
- ✓ د اساسي قانون خلاف عمل دی.

Frage# 20 von 300

**Welches ist das Wappen der Bundesrepublik Deutschland?**



له ۳۰۰ څخه ۲۱ پوښتنه

**د آلمان د فدرالي جمهوریت نښه څه شی ده؟**



Frage# 22 von 300

**Was für eine Staatsform hat Deutschland?**

- Monarchie
- Diktatur
- ✓ Republik
- Fürstentum

له ۳۰۰ څخه ۲۲ پوښتنه

**آلمان څه ډول حکومت لري؟**

- پاچاهي
- دیکتاتوري
- ✓ جمهوریت
- سلطنت

Frage# 23 von 300

**In Deutschland sind die meisten Erwerbstätigen …**

- ✓ Bei Einer Firma Oder Behörde Beschäftigt.
- In Kleinen Familienunternehmen Beschäftigt.
- Ehrenamtlich Für Ein Bundesland Tätig.
- Selbständig Mit Einer Eigenen Firma Tätig.

له ۳۰۰ څخه ۲۳ پوښتنه

**په آلمان کې، ډیری کار کوونکي …**

- ✓ د شرکت یا دولتي سازمان لخوا گمارل شوي.
- په کوچنی سوداګری کې کار کوي.
- د یو دولت لپاره رضاکارانه کار کوي.
- خپل شرکت کی کار کوي.

Frage# 24 von 300

## Wie viele Bundesländer hat die Bundesrepublik Deutschland?

- 14
- 15
- ✓ 16
- 17

له ۳۰۰ څخه ۲۴ پوښتنه

## د آلمان فدرالي جمهوریت څو فدرالي ایالتونه لري؟

- ١٤
- ١٥
- ✓ ١٦
- ١٧

Frage# 25 von 300

## Was ist kein Bundesland der Bundesrepublik Deutschland?

- Nordrhein-Westfalen
- ✓ Elsass-Lothringen
- Mecklenburg-Vorpommern
- Sachsen-Anhalt

له ۳۰۰ څخه ۲۵ پوښتنه

## د لاندې ایالتونو څخه، کوم یو د آلمان ایالت نه دی؟

- ناټغایم‌ویسټفالن
- ✓ الزاس‌لاټغنګین
- میکلنبورګ‌فوه‌پومان
- زکسن‌انهالټ

Frage# 26 von 300

## Deutschland ist …

- Eine Kommunistische Republik.
- ✓ Ein Demokratischer Und Sozialer Bundesstaat.
- Eine Kapitalistische Und Soziale Monarchie.
- Ein Sozialer Und Sozialistischer Bundesstaa

له ۳۰۰ څخه ۲٦ پوښتنه

## آلمان … دی. کومه یوه جمله سمه ده؟

- یو کمونیست جمهوریت دی.
- ✓ یو دیموکراتیک او ټولنیز فدرالي دولت دی.
- یوه پانګوال او ټولنیزه پاچاهي.
- یو سوسیالیست فدرالي دولت دی.

Frage# 27 von 300

## Deutschland ist …

- Ein Sozialistischer Staat.
- ✓ Ein Bundesstaat.
- Eine Diktatur.
- Eine Monarchie.

له ۳۰۰ څخه ۲۷ پوښتنه

## آلمان … دی. کومه یوه جمله سمه ده؟

- یو سوسیالیستي دولت دی.
- ✓ یو فدرالي دولت دی.
- دیکتاتوري ده.
- شاهي ده.

Frage# 28 von 300

## Wer wählt in Deutschland die Abgeordneten zum Bundestag?

- Das Militär
- Die Wirtschaft
- ✓ Das Wahlberechtigte Volk
- Die Verwaltung

له ۳۰۰ څخه ۲۸ پوښتنه

## څوک په آلمان کې د پارلمانBundestag غړي (وکیلان) ټاکي؟

- پوځ
- اقتصاد
- ✓ رایه ورکوونکي خلک
- مسؤل سازمان یا اداره

Frage# 29 von 300

## Welches Tier ist das Wappentier der BundesrepublikDeutschland?

- Löwe
- ✓ Adler
- Bär
- Pferd



له ۳۰۰ څخه ۲۹ پوښتنه

## کوم حیوان د آلمان د فدرالي جمهوریت سمبولیک حیوان دی؟



- زمری
- ✓ باز مرغه یا عقاب
- خنځیر یا خرس
- آس

Frage# 30 von 300

## Was ist kein Merkmal unserer Demokratie?

- Regelmäßige Wahlen
- ✓ Pressezensur
- Meinungsfreiheit
- Verschiedene Parteien

له ۳۰۰ څخه ۳۰ پوښتنه

## زموږ د دیموکراسۍ ځانګړتیا کومه یوه نه ده؟




- منظمې ټاکنې
- ✓ مطبوعاتي سانسور
- د بیان ازادي
- مختلف ګوندونه

Frage# 31 von 300

## Die Zusammenarbeit von Parteien zur Bildung einer Regierung nennt man in Deutschland …

- Einheit.
- ✓ Koalition.
- Ministerium.
- Fraktion.

له ۳۰۰ څخه ۳۱ پوښتنه

## د حکومت جوړولو لپاره د ګوندونو همکارۍ په آلمان کې، دې ته څه ویل کیږي؟

- واحد.
- ✓ ایتلاف.
- وزارت
- برخه.

Frage# 32 von 300

## Was ist keine staatliche Gewalt in Deutschland?

- Gesetzgebung
- Regierung
- ✓ Presse
- Rechtsprechung

له ۳۰۰ څخه ۳۲ پوښتنه

## کومه یوه برخه د دولت تر کنټرول لاندې نه ده؟

- مقننه قوه «قانون جوړونکې»
- اجرایه قوه «حکومت»
- ✓ رسنۍ
- قضایه قوه

Frage# 33 von 300

## Welche Aussage ist richtig? In Deutschland …

- ✓ Sind staat und religionsgemeinschaften voneinander getrennt.
- Bilden die religionsgemeinschaften den staat.
- Ist der staat abhängig von den religionsgemeinschaften.
- Bilden staat und religionsgemeinschaften eine einheit.

له ۳۰۰ څخه ۳۳ پوښتنه

## په المان کې کومه وینا سمه ده؟

- ✓ دولت او مذهبي ټولنې له یو بل څخه جلا شوي دي.
- مذهبي ټولنې دولت جوړوي.
- دولت په مذهبي ټولنو پورې تړلی دی.
- د مذهبي ټولنو او دولت تر منځ وحدت دی.

> **Der Vertrag des Menschen mit der Heimat, den Bergen, Wüsten, dem Klima und den Menschen ist nicht nur physischer Natur, sondern diese Bindung erstreckt sich auch auf Atmung, Trinken, Essen, Schlafen und Unabhängigkeit.**

waren und in die Vereinigten Staaten von Amerika, England, Australien und Kanada gingen, hat keine Probleme mit der Sprache und  problemlos ein neues Leben in diesen Gemeinden beginnt.

Trotz es half Afghanen mit Englisch Sprachkenntnis , die in europäische Länder eingewandert waren, Aber die jenigen Afghanen, die in anderen europäischen Ländern als den genannten vier Ländern leben, müssen für die Zukunft ihrer Familie und Kinder, um ein normales Leben zu führen, zu arbeiten und die Staatsbürgerschaft zu erwerben, die Sprache ihres Wohnsitzlandes zu lernen.

Viele Afghanen in Deutschland stehen beim Erlernen der deutschen und afghanischen Landessprache vor zwei Problemen.

Eine Gruppe lernt die Sprache nicht unter dem Vorwand, dass die Sprache sehr schwierig und kompliziert sei, und unter diesem Vorwand ist sie nicht nur auf Sozialhilfe vom Staat angewiesen, sondern verrichtet auch schwere und anstrengende Arbeit mit niedrigen Löhnen und Gehältern. Diese Gruppe von Menschen benutzen nicht die Möglichkeiten einer höheren Bildung für die glänzende Zukunft ihrer Kinder und im Laufe der Jahre haben sie die Süße eines wohlhabenden, komfortablen und friedlichen Lebens nicht erfahren und sie sind damit beschäftigen in der Aufgaben, die Neuzugänge erledigen sollten.

Die zweite Gruppe ist beim Erlernen der Sprache so streng und extrem, dass sie ihre Muttersprache aus dem Konversationsprozess und der Redewendung in ihrem familiären Umfeld entfernt hat und die Sprache ihres familiären Umfelds ebenfalls Deutsch ist. Die zweiten Generation von diese Gruppe sprechen auf ihrenMuttersprachen Paschtu und Dari überhaupt nicht.

Ich denke, es braucht einen Ausgleich und die mittlere Lösung besteht darin, dass wir in Deutschland oder einer anderen europäischen Gemeinschaft leben.

Unabhängig vomAltersunterschied müssen wir Deutsch oder eine andere europäische Sprache lernen, um die täglichen Bedürfnisse des Lebens zu befriedigen, die Probleme zu lösen, die Staatsbürgerschaft zu erhalten, je besser den Anforderungen der Arbeit und Ausbildung in verschiedenen Bereichen zu erfüllen.

Indem wir die Muttersprache in die häusliche Umgebung bringen und unter den Familienmitgliedern sprechen, können wir ein erfolgreiches Leben in der neuen Gesellschaft führen und beginnen. Durch die Kommunikation mit der Muttersprache können wir psychische Belastungen und Störungen lindern, die durch die Entfremdung und Trennung von unserer eigenen Gemeinschaft verursacht wurden. Das Sprechen in der Muttersprache unter den Familienmitgliedern wird unserem neuen Leben die Süße des Lebens verleihen, die in unserer Gesellschaft vorhanden war.

Die neue Generation und die Kinder können ein schönes und nettes Bild der beiden unterschiedlichen Kulturen schaffen, indem sie ihre eigene Identität und Werte bewahren und die Süße und Schönheit in unser Leben bringen, indem sie ihre eigenen Fähigkeiten und qualifiekationen aufbauen, die auf alle Anforderungen und Bedürfnisse der modernen Gesellschaft reagieren .

**Unabhängig vom Altersunterschied müssen wir Deutsch oder eine andere europäische Sprache lernen, um die täglichen Bedürfnisse des Lebens zu befriedigen, die Probleme zu lösen, die Staatsbürgerschaft zu erhalten, je besser den Anforderungen der Arbeit und Ausbildung in verschiedenen Bereichen zu erfüllen.**

Dass die Lebensweise in der westlichen Gesellschaft sehr offensichtliche und deutliche Unterschiede zur östlichen Gesellschaft und insbesondere zu unserer afghanischen Gesellschaft aufweist und diese Unterschiede zu einer Reihe von (Herausforderungen und Chancen) führen.

Um in der Lage zu sein, die Herausforderungen der Einwanderung zu meistern, rechtzeitig auf die bestmögliche und geeignete Art und Weise auf all die Fragen zu reagieren, die zu Beginn des neuen Lebens in der westlichen Gesellschaft stehen und die Art und Weise hervorheben, wie man von den Chancen profitieren kann, habe ich versucht, sie zu erkunden so viel ich kann in diesem Artikel.

Zu Beginn die Herausforderungen, mit denen Afghanen konfrontiert sind, wenn sie in westliche Länder kommen:

## Sprachwechsel

Unterschiede in religiösen Überzeugungen und Werten
Kulturelle Unterschiede
Familienprobleme
Kinder in einer neuen Umgebung trainieren
Mangel an sozialen Beziehungen
Einsamkeit und Isolation
Diskriminierung und Fehlverhalten in der neuen Gemeinschaft und Anzahl der Organisationen.

## Sprachwechsel:

Um auf diese hohe Anforderungen von Marktes zu reagieren, wurden im ganzen Land unzählige Englisch-Lernzentren gegründet und er stellte der Gesellschaft eine große Zahl von Afghanen vor, die auf verschiedenen Ebenen Englisch beherrschen.

An diesem Vereinigten Staaten leiten Engagement waren auch andere westliche Länder, insbesondere europäische Länder beteiligt. obwohl fast jedes Europäische Land eine eigene Sprache hatte aber sie haben sich nicht konkret für die Entwicklung, das Wachstum und die Verallgemeinerung ihrer Sprachen gearbeitet, mit anderen Worten: Der Wunsch für lernen dieser Sprachen nach Arbeit und Einkommen entsprach nicht der Nachfrage des Marktes.

Vielleicht lag einer der Gründe darin, dass diese Länder für die Umsetzung ihrer Programme und Projekte Menschen beschäftigten, die die englische Sprache beherrschten oder damit vertraut waren.

Nach dem Wechsel hatten die meisten Afghanen, die Englisch konnten oder mit Englisch vertraut



Der Vertrag des Menschen mit der Heimat, den Bergen, Wüsten, dem Klima und den Menschen ist nicht nur physischer Natur, sondern diese Bindung erstreckt sich auch auf Atmung, Trinken, Essen, Schlafen und Unabhängigkeit.

Aber diese Verbindung hat neben der physischen auch eine psychologische Seite, die hauptsächlich mit sozialen Bräuchen, religiösen und nationalen Werten, sozialen Beziehungen, Traurigkeit und Glück zusammenhängt, die durch die Ferne von der Heimat und den Menschen und die Flucht als Flüchtling beeinträchtigt werden. Das Ausmaß der Veränderung und Modifikation hängt von der Gemeinschaft und der Person selbst ab.




# Herausforderungen und Chancen für afghanische Flüchtlinge im Westen!

**Dr. Waseel**

Der Wandel und wechsel vom 15.August 2001 führten erneut dazu, dass der halbnormale Lebensablauf der Afghanen umfangreiche Veränderungen und Modifikationen erfuhren.

Obwohl die negativen Auswirkungen dieser weitreichenden, umfassenden und tiefgreifenden Veränderung sehr tiefgreifend und weitreichend waren und alle Aspekte des Lebens veränderten, hatte sie darüber hinaus mehrere positive Aspekte, wie die Zerstörung von Macht- und Autoritätsinseln, die verhinderten ein mögliches Wiederaufflammen des Bürgerkriegs und als Beispiel kann das Ende eines rücksichtslosen, brutalen und hässlichen Krieges zur Erlangung politischer Autorität genannt werden.

Die größte Katastrophe und Tragödie dieses großen Wandels bestand darin, dass die in den letzten 20 Jahren ausgebildeten Menschen in der Hoffnung auf ein besseres Leben in die westlichen Länder zogen oder gezwungen waren, das Land zu verlassen und zu fliehen.

Auch wenn dies wahrscheinlich nicht das erste Mal ist, dass Afghanen zu einer massiven und allgemeinen Migration gezwungen werden, ist es nach dem Putsch im April fast das vierte Mal, dass sich unsere lieben Landsleute aus verschiedenen Gründen von ihrer Familie, ihrer Nation und ihrem Land trennen .

## Liebe Leserinnen und Leser des Hazob Magazins,

wir freuen uns, dass Sie die dritte Ausgabe dieses Magazins erhalten haben. Wir danken Ihnen für Ihre Lektüre und hoffen, dass Sie uns bei der Weiterentwicklung dieses einzigartigen Paschtu-Deutschen Magazins in Deutschland unterstützen.

In dieser Ausgabe haben wir eine Vielzahl von Inhalten für Sie vorbereitet. Ab dieser Ausgabe wird außerdem eine neue Rubrik für Kinder ein wesentlicher Bestandteil der kommenden Ausgaben unseres Magazins sein.

In der Umgebung unseres Heimatlandes sind die Gefühle, Gedanken und Ereignisse, die mit unserem Geburtsort und unserer Heimat verbunden sind, einer der Hauptgründe für die Verbundenheit mit unserem Land, unseren Leuten und unseren Werten.

Die Sinne, Gedanken und Ideen, die in der Kindheit entwickelt werden, spielen eine entscheidende Rolle für das Empfinden von Patriotismus und Eigenverantwortung im späteren Leben. Die Sorge darüber, wie sich diese Sinne und Gedanken bei Flüchtlingskindern entwickeln, wird immer ernster.

Trotz dieser Herausforderungen gibt es Wege, Kindern, die in einer anderen Umgebung aufwachsen, dabei zu helfen, ihre Werte zu bewahren und zu vermitteln. Erfahrungen haben gezeigt, dass Familien, die während der Einwanderung zögern, ihren Kindern ihre Werte, Religion und Denkweise zu vermitteln, Identitäts- und Wertekrisen riskieren, da ihre Kinder das Einwanderungsland als ihr Hauptumfeld betrachten.

Im Vergleich zu anderen Ländern und Gesellschaften haben die aktuellen Generationen der Afghanen tief verwurzelte Wurzeln, bedingt durch die über vierzigjährige Geschichte des Landes. Deshalb tragen afghanische Familien bei der Einwanderung eine größere und schwerwiegendere Verantwortung als andere Flüchtlingsgemeinschaften.

s wurde viel darüber diskutiert, warum es für Afghanen in der deutschen Gesellschaft wichtig ist, ihre Religion, Werte, richtige Traditionen und Sprache zu bewahren, sowie warum sie sich von anderen Flüchtlingen unterscheiden.

Die Antworten auf diese Fragen liegen in unseren eigenen Händen, da wir bisher keine starken und koordinierten Anstrengungen unternommen haben, um unsere Werte und Identität zu schützen, während die deutsche Gesellschaft diesbezüglich besser aufgestellt ist.

Wenn wir in der deutschen Gesellschaft leben oder unsere Kinder hier aufwachsen, ist es zweifellos wichtig, die Werte, die Sprache und die Kultur der deutschen Gesellschaft zu kennen. Gleichzeitig sollten wir jedoch nicht die afghanischen Werte vernachlässigen.

Wenn wir nicht als afghanische Gemeinschaft aktiv handeln und uns für unsere Werte und Identität nicht einsetzen, riskieren wir, dass die nachfolgenden Generationen ihre Wurzeln und Identität außerhalb des Landes verlieren. Deshalb müssen wir als afghanische Familien die wahre Bedeutung dieser Verantwortung erkennen und unseren Kindern ein Gefühl der Eigenverantwortung vermitteln.

Jeder von uns, jede afghanische Familie, sollte diese Verantwortung annehmen und sie zu einer Priorität in unserem täglichen Leben machen. Daher hat unser kleines Team beschlossen, in der nächsten Ausgabe des Hazob-Magazins spezielle Seiten für Kinder vorzubereiten. Diese Bemühungen erfordern jedoch die aktive Unterstützung der in Deutschland lebenden Afghanen.

Wir werden Materialien für Kinder in ihrer eigenen Sprache erstellen und an afghanische Familien verteilen, einschließlich Lernmaterialien und anderen Informationskomponenten. Dennoch liegt es in der Verantwortung der Familien, diese Informationen individuell zu vermitteln und mit ihren Kindern zu üben.

Abschließend hoffen wir, dass der Inhalt dieses Magazins Anklang findet und jede afghanische Familie in Deutschland davon inspiriert wird.

Mit freundlichen Grüßen

HAZOB

zeitschrift

# HAZOB

Sozial- und Kulturmagazin

## Dezember 2023


## Impressum:

**Herausgeber:** Hazob (Gelenkstift der Veränderung und Verbindung)
**Chefredakteur:** Mahmood Saeed
**stellvertretender Redakteur:**Mojeeburahman Ehsas
**Redakteur:** Qarib Rahman Shahab
**Design und Gestaltung:** Hewadmal Graphics
**Online-Angelegenheiten oder Angelegenheiten:** Khan Agha Noori
**Fotograf:** Mohammad Imran
**Vertreten durch:** Wazhma Ayoubi, Mohammad Imran Storay, Wazhma Tokhi, Mahmood Saeed, Mojeeburahman Ehsas, Qarib Rahman Shahab, Khanagha Noori,
Sahar Gul Saher, Abdulwasay Hewadmal, Nasir Ahmad Andial
**Redaktion:** Asadullah Khaliz, Naeema Ghani,
Jandad Jahani, Naqib Ahmad Atal, Mahmboobullah Khan, Wasil Rahimi, Sirajulahaq Babarakzai Zadran, Mohib Zgham, Abdul Ghani Mustaghni.



**E-Mail:**
info@hazob.de
**Internet:**
www.hazob.de
**Address:**
Hazob
Berlin, Deutschland


SCAN ME

# Organization for Relief Development (ORD)

Die Organisation für Reliefentwicklung (ORD) ist eine nichtstaatliche, unpolitische und gemeinnützige Organisation, die sich der nachhaltigen Entwicklung in Afghanistan verschrieben hat. Mit dem Schwerpunkt auf der Umsetzung der Ziele für nachhaltige Entwicklung (SDGs), insbesondere für gefährdete Gruppen, arbeitet die ORD mit einer klar definierten Struktur, geleitet von der Vision von gestärkten Gemeinschaften. Die Mission der Organisation betont multi-sektorale und gemeindegetriebene Entwicklungsprogramme und spiegelt dabei Kernwerte wie gegenseitigen Respekt, Gerechtigkeit und Fairness wider. Geleitet von Prinzipien des Glaubens, der Unparteilichkeit und der Einheit arbeitet die ORD mit Regierungsstellen und anderen NGOs zusammen.

Die dezentrale Struktur der ORD mit Büros in ganz Afghanistan ermöglicht eine effektive Umsetzung von Initiativen. Die Organisation drückt ihre Dankbarkeit gegenüber Spendern wie dem UNHCHR, UNOCHA und anderen aus, die bedeutende Interventionen ermöglichen. Die umfassende Wirkung der ORD umfasst 250 Projekte in Bereichen wie Ernährungssicherheit, Wasser, Sanitärversorgung, Unterkunft, Schutz, gemeindebasiertem Schutz und langfristiger Entwicklung. Die Organisation arbeitet mit einem Jahresbudget von rund 10 Millionen USD und kommt über 3 Millionen Menschen zugute, was sie zu einem wichtigen Akteur in humanitären und entwicklungsbezogenen Bemühungen in Afghanistan macht.

Zertifizierungen und Mitgliedschaften, darunter die UN-Beschaffungszertifizierung und die Teilnahme an verschiedenen Foren, bestätigen das Engagement und die Professionalität der ORD. Zusammenfassend lässt sich sagen, dass der vielschichtige Ansatz, die robuste Struktur, die finanzielle Stärke, die umfassende Reichweite und die kooperativen Bemühungen die ORD zu einer treibenden Kraft für positive Veränderungen in Afghanistan machen, was sich nicht nur in Interventionen, sondern auch in Prinzipien und Werten zeigt.

Email: ord.Kabul@yahoo.com
director@ord.org.af
Website:
Mobile: +49 1704070535



3

zeitschrift

# HAZOB

Sozial- und Kulturmagazin

**In dieser Ausgabe lesen Sie:**

- Afghanische Flüchtlinge: Herausforderungen und Chancen in Deutschland.
- Wertvolle Tipps für das perfekte Deutschlernen....
- Die immense Verantwortung für die Zukunft afghanischer Kinder...
- Die Nationalhymnen Deutschlands und Afghanistans...